# له مانبامه تر سپېدو



ځای ورکړی په حُجرو کې او زلمي مو ورسره کړئ

راغلی یو کاروان دی له مانبامه تر سپېدو

Download from:aghalibrary.com

راشد

## حقوق يې خوندي دي

بسم الله الرحمن الرحيم

د کتاب نوم ........................................................................ له ماښامه ترسپېدو

ليکوال ................................................................................... مفتي راشد

لومړی چاپ ................................................................................ ۱۴۳۴ هـ ق

د چاپ شمېر................................................................................ زر ټوکه

خپرونکی ............................................................................ الهلال نشراتي مرکز

ايمېل : al_hilal@yahoo.com

# ډالۍ

خپلې او نورو سپېڅليو ميندو ته چې د علم ، جهاد او خپلواکۍ لپاره له زامنو نه جدا د بېلتون شپې تېروي ، په ترمو اوښکو او دعا ګانو يې بدرګه کوي ، هغه دعاګانې چې د حالاتو د سختو طوفانونو پرمهال بيا د هيلو څرک او غيبي نصرت شي .

خپل او نورو قدرمنو پلرونو ته چې په خُوَلو او دعاګانو د زامنو توره او قلم وچېدو او پځېدو ته نه پرېږدي، د هېواد او امت د زرينې راتلونکې لپاره کړاوونه په يوائې زغمي، بچي يې هر سپېڅلي خدمت ته پرېښي وي.

همدوی ته . . او له لوی خدای جل جلاله نه ورته مرسته، صبر ، او سمسور جنت ، جنت الفردوس غواړم ، آمين .

## هغه لمر بیا را خېژي

د ښاغلي مفتون ورور په قلم ........................ ۹
پرښه ........................ ۱۱
زمـــــونږه ربه ! ........................ ۱۳
چې محمد صلی الله علیه وسلم راغی ........................ ۱۴
خپلواکه دښتې غرونه ........................ ۱۵
سر پورته کړه حقپاله ........................ ۱۶
د چا چې فـــکر وي سمسور ........................ ۱۷
د زړه سپېدی ........................ ۱۸
را تاو شول د عــــــــربو ځوانان ........................ ۲۰
لکـه توحید چې له ایمان سره په زړونو ګرځي ........................ ۲۲
زه به مې زړه ته دا تسل ورکوم ........................ ۲۴
د ازل لــــوړه عملـــــــي کړه ، زولنې ماتې کړه ........................ ۲۶
له مانبامه تر سپېدو ........................ ۲۷
زیږې پاڼې تتې وړانګې ، لوند ګودر ........................ ۲۸
ګرانه راشــــــــه څو دردونه در ښکاره کړم ، ........................ ۳۰
که خپلـــــــــــواکۍ ته نذرانه نشي ........................ ۳۱
دا منمــــــــــه چې بهار شوې ........................ ۳۲
یوه څـــــــــریکه اسویلي شي د ستا یاد ........................ ۳۳
دې ترورمو لره ډیوه شه د توحید سندرې ........................ ۳۴
دا کمکی خــــیال وړوکي زړونه جهان څه پېژني ........................ ۳۶

مه کـــــوه ، آه به يې سيندونه ........................................ ۳۹
جونګړه د حـــيات مې ........................................ ۴۵
د وخت زلـــمي يو ........................................ ۴۱
د قرباني رويبار ........................................ ۴۲
هر ولس ، يوه لار ونيوله ........................................ ۴۳
کاشکې ټول ادب مو خپل وی ........................................ ۴۵
لوی اختر ........................................ ۴۷
زمونږ د زړه ........................................ ۴۸
زه لا ژوندي يم ........................................ ۴۹
طارق بن زياد رحمة الله عليه ........................................ ۴۹
اياس بن معاويه رحمة الله عليه ........................................ ۵۰
دلـــــمر زرينې وړانګې ........................................ ۵۱
زه يو خــوب وينم ، چې کله به رښتيا شي ........................................ ۵۲
په هره خوا کې خوښي نــشته ........................................ ۵۳
شپخه له نورو خو ګيله نه وه ، په تا څه وشول ؟ ........................................ ۵۴
لکه د شنه اســـمان په وريځو کې چې زانه راځي ........................................ ۵۵
خدايه ښه ښکاري جدا نکړې خواږه زړونه يو ځای ........................................ ۵۶
بلعام بن باعورا ........................................ ۵۷
که اســـــــلام نيسم ........................................ ۵۹
پرېږده نــــور د مينې او جانان کيسې ........................................ ۶۱
ورو ورو ورکـــېږي د بدی ستوری ........................................ ۶۲

کـــــه یاري غواړې د ګل ........................................ ۶۳
ســـــحر د نصرتونــــــو........................ ......................... ۶۴
دازل لوړه ........................... . ........................................ ۶۴
بیا ګرځــو په ګلبڼ پسې ........................................................ ۶۵
قیروان ، او عقبه بن نافع رضي الله عنه .................................. ۶۶
دې ناورین کې . ........................................................... ۶۷
د هجر شپه څومره اوږده شوه ؟! ...................................... ۶۹
ځان بیدار کړه ................................................................ ۷۱
داسې رازونه لـــــــــه تاریخ د زمانې ښکارې ..... ................... ۷۲
ای د عذاب مَلَکُو ! . .......................................................... ۷۳
د سعد رضي الله عنه دروازه ............................................... ۷۴
د ایمان زور مو هر زنځیر او هر تړون ماتوي ............................ ۷۶
زموږ د عزم مخ ته ټول کافران مات دي .................................. ۷۷
تنها پاتې شـــــوم غمونو او هجران ته . .................................. ۷۸
وساته ایمان ، د خورکۍ شال ............................................ ۷۹
دا موسکا چې زما په شونډو درته ښکاري ............................... ۸۰
شڼ وکړي د غشي غوندې.................................................. ۸۱
د زړه غم د سترګو نم به درد دوا کړي ................................... ۸۴
زما زړه ....................... ............................................... ۸۵ د
وطن یاد ............................................................... ۸۶ د
میوند جنګ ، ایوب خان ، او ملالۍ ...................................... ۸۷

عبد الله او زهرا ........................................ ۸۷
پته مینه زما او ستا خبرې شوې ........................................ ۸۹
تیارو ته ســــباوون شه ........................................ ۹۰
حنظله رضي الله عنه ........................................ ۹۰
د ځلورو شهیدانو مور خنسا رضي الله عنها ........................................ ۹۱
د خدای نعمت ........................................ ۹۲
هجرت ........................................ ۹۴
آزادۍ ته ........................................ ۹۷
را وباسئ ســـــــرونه نور د وخت له هتکړو ........................................ ۹۹
افغانه پېغله ........................................ ۱۰۰
غدار زړی ........................................ ۱۰۱
پس له لوی کړاو نه ثمر څه معنا ؟ ........................................ ۱۰۲
لمر او ورېځې ........................................ ۱۰۴
د ایمان قصیدې ........................................ ۱۰۶
نصیحت ........................................ ۱۰۷

## ترانې

د غازي پیغام ........................................ ۱۱۶
نعت ........................................ ۱۲۴
د سنګرونو مازدیګر ........................................ ۱۳۰

بسم الله الرحمن الرحیم

د انګرېزانو دې وحشي صليبي لښکر ، د مسلمانانو د خاتمې په موخه د سختو زهرجنو جنګي وسايلو سربېره د ديموکراسۍ تر خبيث عنوان لاندې د مسلمان امت د ځوان نسل د منحرفولو لپاره بې شماره اسباب په کار اچولي.

دې وحشيانو په هر رنګ او هره جامه کې په زرګونو داسې کسان روزلي چې د راديو تلوېزون ، مجلو ، مؤسساتو ، ګډ تعليم ، په نصاب کې د بدلون ، د ژبو او کسب به نوم د مرستې ، او خصوصا د بشر دوستۍ په پلمه زمونږ د ځوان نسل په ذهنونو کې د بې دينۍ ، بې حياتوب بلکه په ډاګه د يهوديت او مسيحيت ميکروب پيچکاري کوي ، تر څو زمونږ سپېڅلي اسلامي فرهنګ رنګ او پر ځای يې کرغېړن غربي تهذيب عملي کړي .

خو الحمد لله د دې دور د فرعون لپاره الله  رب العزت هر با احساسه زلمی موسی ګرځولی دی ، چې له اثره يې دا فرعون اوس د قلزم د څپو تر منځ حيران ولاړ دی ، له نظامي طاقت سره سره يې نور تبليغاتي فلانونه هم له ناکامۍ سره مخ دي .

دا ځکه چې په اسلامي امت کې ډېر داسې زلمي شته چې په قرآن او حديث پوهېږي، د يهودانو او مسيحيانو هر عمل تعقيبوي ، د دوی له پټو او ښکاره چلونو څخه مسلمانان خبروي ، تر څو يې له شر څخه په امان شي .

محترم ورور مفتي راشد صيب ډېر ځيرک او د ټولنيز فکر خاوند دی ، قلم يې ډېر په هنر کارولی دی ، مسلمانان يې د صليبي لښکرو فرېبونو ته متوجه کړي دي ، او هم يې د وسلوال جهاد دعوت ورکړی ، خپل مجاهدين غازيان او اتلان يې ستايلي دي ، ورسره ورسره يې ټولو مسلمانانو او خصوصا د جهادي بهير ملګرو ته په ډېرو ښايسته ټکو د اصلاح دعوت ورکړی دی .

راشد صاحب پخپله عالم او مُدَرِّس دی ، وينا يې ځکه ټولنيز خصوصيات او يو قسم نازک خيالي لري ، د پښتو ځينې کليوال ، ساده ، غريبز لغاتونه او نومونه ورسره

راغلي دي ، چې شعرونه يې ډېر خوندور کړي دي . د دې شعري ټولګې ډېر ستايل هم کم بولم .

والسلام

ستاسو ورور ( اکرام الدين ) مفتون .

زمـــــونږه ربه ! د سیــندونو ربه
د دنګـــــــو دنګو چـــــنارونو ربه!
لوی او واړه مخلوقات تا پیدا کړل
د وور میږي اولویو غرونو ربه

انسان ته خوی ګل ته ښکلا ورکوې
د چا سا خېژي چاته سا ورکوې
غریب د ستا او شتمن ستا په لاس دی
چــــــاته یو غم چاته خندا ورکوې

نن له هغو سره چې تا نه مني
ستره جګړه او جنجـــــال لرمه
متې مې شته خوپکښې زور نه لرم
قلم ته تش په نوم لیکوال لرمه

قلم ته ګوتې ، وار ته ډال غواړمه
ځوان ته همت پېغلې ته شال غواړمه
ځو ستا استازی شي د وخت عالم ته
یو له تقوا نه ډک دسمال غواړمه

. ۱۴۲۷ هــ ق ۱۳۸۵ هــ ش

---

د رحمت زلفې خورې وې، د کسرا ماڼۍ کږې وې
اسمانونو کې خندا وه د مَلَکُو خولې خوږې وې

ای رحمان رحیمه! ستا ذات یوه نوې فیصله کړه
د ثواب او عذابونو له بشر سره وعـــــدې وې

ابلیـــس خاورې بادولې په بچیانو یې شیندلې
د بُتانو کـوچ روان وو ، د رحیل لوږې نعرې وې

د عرفان سیلۍ په ورو، ورو ،نوې یُون ته تیاری کړ
جهل تللو ته چمتو وو د وحشت سلګۍ سړې وې

د قانـــون خړه خېره بیا په خندا وه ځلېدله
د نفسي اِمارت خلې نړېدل وروستۍ شېبې وې

د د هشت په نړۍ دغه سباوون راشـده څه وو ؟
ولادت د محمد (ص) وو ، د ځلانده لمر شُعلې وې

۱۴۲۸ هـــ ق ۱۳۸۵ هـــ ش

کوچ : کډه . رحیل : روانېدل . یون : مزل . نفسي اِمارت : وضعي قوانین او مشران یې . خلې ، خلي : مینار.

---

ایمانه ! بیا مو زلمي تاته قصیدې پخوي
د توکل او د نصرت منځ کې کتار ولاړ یو

چې یوه خښته یې پیلان د ابرهه نشي وړی
بلې مکه کې ، ځنګ په ځنګ لکه یو ښار ولاړ یو

دوی یې جنون ، مونږ ه پرې پل د جنت لاره بولو
کتار کتار فدایي برید ته انتظار ولاړ یو

ډېرو قومونو الله پرېښود ، په رکوع شول بل ته
مونږ لا په سره اور کې سجدې ته د بادار ولاړ یو

رسول الله به رانه خوښ شي په همدې عمل چې
د دین دفاع ته په سختیو کې تیار ولاړ یو

خدای له ازله زمونږ په خټه حماسې ګډې کړې
اوس هر طاغوت ته پدې لارو لکه دار ولاړ یو

له کړاوونو را تېر شوي یو تازه پاخون کې
تورې په لاس، هر ځای زلمي په سر د مار ولاړ یو

---

د ازل لـــوړه عملـــــــي کړه ، زولنې ماتې کړه
ځوانه د نر خــويونه خـپل کړه ، پنجرې ماتې کړه

ستا د همـت نشتوالي بند کړلـــــو د رب کورونه
د عــــــــزم څلی ابراهيم شه بتخانې ماتې کړه

د قرطبې دجامع هر دالان کې جوړ مى ځای شو
بيا د طـــارق له ساحل ورشه ميخانې ماتې کړه

يوه ښــــکلا شه ملغــــــلره د رحمت د سهار
د سپېدو توره د وحشت دا تورې شـپې ماتې کړه

زلميه ! ونيسه په کـــوتو کې تر څنګ د توپک
د قلـــــــم څوکه دا دجهل ترورمې ماتې کړه

۱۴۲۸ هـ ق ۲۰۰۶ م

لوړه : عهد . مى : شراب .سپېدې : سباوون ، د سهار اولې رڼاګانې . ترورمې : تيارې . څلی : مينار .

---

په یاد مې وي تل بـــوټي د جنت د باغیچو
غِلمان سره پالنګونه او ډک لوښـــي له مېوو

دیدن به وي نو کـله ستا ای حورې د جنت؟
جامونه د شرابو ستا تر نرمـــو اننګو

مزل مـــو په ازغنو لارو حکم دی د رب
آرام به وکـــړو هلته ستا په لېچو او لېمو

ځای ورکړئ په حُجرو کې او زلمي مو ورسره کړئ
راغلی یو کاروان دی له مانښامه تر سپېدو

ثواب به یې رب درکړي په دنیا کې خپلـواکي
په ورځ د آخرت به شئ ســـــــر لوړي د قَومو

د خدای د رضا لاره بس اسانه درته ښیم
مؤمنه ! فدایي شه پورې واوړه له فتنو

۱۰محرم ۱۴۳۲هــ ق

زيږې پانې ، تتې وړانګې ،لوند ګودر
د وصال نغمو ته غلی مازديګر

په نڅا ، نڅا مرغان لوړ چنارونه
خوږمن باد، شينکی اسمان، ښکلی نښتر

په خندا ،خندا زلمي زرغون چمن کې
سپينه وريځه مست بازان او ښکلی غر

خوږ وطن مو لږ د عصر ښکلا غواړي
لوی باران د تربيت د علم لمر

د ولس د پرختګ زرين هدف ته
سپيلنی کړه پاک قلم سپيڅلی سر

۱۴۳۳هـ ق

خپلواکه دښتې غرونه ،له غرور نه ډک سيندونه
تازه ښکلي بازان هيبتي پرښـــــې چنارونه

آزاده يې سپاره ، په سر يې سوری د يو خدای
کــږې پښتنې لارې سره اوښـان تنکي اسونه

ښکلا يې په توحيد کې رکوع نه کوي هېچاته
په بره عرش ته ګوري لوړې څوکې او سرونه

ستومانه وړي ګرځي په دې ګارو او ځنګلونو
د ښار له ژوند نه کرکه کړي زمري وچ هډونه

ايمان ايمان څېرې ، همــدا يې برخـه د ازل
ټومبلې خدای هر زړه کې د اسلام لوړ بيرغونه

ور پرېښوده زلميانو خوږ ژوندون ښکلې مانۍ
راشـــــــده غيرتيانو بيا ډک کړي سنګرونه

۱۳ربيع الاول ۱۴۳۳ هـ ق ۱۳۹۱ هـ ش

---

**سر پورته کړه حقپاله ســـــــمندر ندی سحاب دی**
**دوکه شوې دنیاواله د دښـــــمن تمه سراب دی**

**پوهان د دې قومونـــــــــو یوې وېرې غلي کړي**
**حکمت بهانه کوي چې سکوت حـکم د کتاب دی**

**موسی (ع) کوره فرعون او ابراهیم (ع) د نمرود مخ ته**
**سپېڅلی محـمد (ص) ناصح مـشرک ته د حساب دی**

**چې زړونه یې پلورلي وي په مینه کې د مـــــال**
**اُبَي بن خَلَفْ غـــــوندې تیار ورته عذاب دی**

**اعـــــــلان وکړه د مینې د اُخدود په لاره یـون**
**راشده په ازغـو مـزل د فتحې وړومبي باب دی**

۱۴۲۸ هــ ق ــ ذي القعده . ۱۳۸۵ هــ ش

سحاب : ورېځ ، لړه . سراب : دوکه ، د سختې ګرمۍ له کبله د شګو هغه ځلا چې د اوبو ګومان پرې کېږي . اخدود : دوی یوه ظالم کافر بادشاه د ایمان په جرم د اور په کندو کې ورغوځولي شهیدان کړي.اُبی بن خلف : د مکې یو مشهوره مشرک ، د مال مینې اسلام ته پرېنښود.

---

د چا چې فـــکر وي سمسور سمې ته غر نه وايي
له خپلـــــواکۍ نه مرور تندي ته ســـر نه وايي

چې پاک الله مني او ژونـــــد د يو هدف لپاره
په هر پيچومي کوي يـــون آرام ته لمر نه وايي

د آزادۍ په لار کې هر کړاو سپېڅلی ګڼي
بې له الله نه بل د هېچا کور ته ،در نه وايي

زمونږ ټولنه نن بيا داسې شازلـــميان لټـــــوي
چې بې قلمـــــه د توپک څوکې ته زر نه وايي

که يې عادات د ستر استازي د اصحابو ،نه وي
قرآن مو داسې جنګياليو ته سنګر نه وايي

پېچومی : کوتل ، لوړه سخته لار .

يون : مزل . ټولواک : الله جل جلاله . ور : دروازه ، د امېد ځای .

---

چې يې وينم نو له ورا کړم ورته ښه
له جاهل نه د خلاصون همدا لار ده

کاينات به دې مرکب شي بس پرې ګرځه
که دې کېښوده په خپل نفس باندې پښه

که د ښکار سيمې ته نه ځې بې له تېغه
تصوف ته هم بې علمه مه راځه

ته به وايې چې هوسۍ ده لاس به ور وړې
او هغه به لوی زمری وي پام کوه

که کوم راز د معرفت درته ښرګند شو
دا لعلونه کلک صندوق کې پټ پټ ږده

د منصور نوره ګناه نه وه ، همدا وه
چې يې خلاصه تر دې راز کړه دروازه

کيما ګر ځکه خاموش او غلي ګرځي
په همدې کې يې عزت وي او پرده

چې خیانت یې تر نامه لاندې ونکړې
دا دخدای دین ډېر نازک دی خیال کوه

په ذلت ، کفر ، او اور کې درېدلي
چې خیرلې چا د دین په نوم پرده

سیده ګرځه په حدودو کې د رب
چې ونه باسې له کرښو یې پنجه

په یوه ګناه به ډېر څه له لاس ورکړې
لوی رحمت به هم کړي لار درنه کږه

دا ښکلا نه ده ګناه نه ده تلک دی
له یو څرک وروسته غمونه در ګڼه

تورېدل د مخ تنګسیا د حلال رزق
تنګېدل د ښکلې ورځ او بنده شپه

ښه کارونه په طلب او توفیق کېږي
همدا اوس وکړه توبه خدای ته نعره

۲۱ ذي القعده ۱۴۳۳هـ

د زړه سپېدې مې سره وچـــوي روښان شي لوري
چې غـــــماز نوي مونږ ته ورځ د پیوستون راشي

کمکی اختر به ترېنه جوړ هره شپه به یې لمانځو
کوم ســات چې دلته غږ د مړینې د بېلتون راشي

واړه قـــــــومونه به را غونډ کړو د اسلام په تغر
په یوه لار به بیا اوزبـک، تاجـک، پښتون راشي

په دې یوه مُلا را غونډ شئ ، بل ته لار ورنکړئ
که د مشرۍ په نیت کوم فیل یا مېړتون راشي

دروازې بندې کړئ کړکیو ته ځـــادر ونیسئ
چې کله ټول مـــشران کوټې ته د تړون راشي

کنه نو بیا به ځو تور مخي یا غربي خیر خواهان
تســـــــپې په لاس د دم لپاره تر مجنون راشي

د اوښ مُهار به کوم زاړه یار ته په چل وســپاري
تخت او ممبر ته به چـــــوپاني او پتلون راشي

هره خبره په خپل لاس خپلو فکرونو حل کړئ
که بیا کیسه د انقـــــــلاب یا د سمون راشي

منصب پرېږدئ هــر کار کې ګټه د ملت لټوئ
چې له ډګر نه غـــبږ د فتحې د شبخون راشي

د ښــــایسته فکر ، پند او علم مدرسې جوړوه
راشده ! ژر به پای د دغـــــــه اوښتون راشي

پیوستون : وصال . فیل : هرهغه کس چې د خپل قدرت لپاره به بیا د جهاد په نوم ببل صف جوړ او افغانان به په خپل منځ کې اخته کړي . مېړتون : مېړی . چوپان : چپنه ، چوغه . شبخون : د شپې حمله . اوښتون : انقلاب .

## مشال

ځینې سړي لکه چې جوړ وي له ځلانده ستورو
د مشالونو غوندې خرک وهي تیارو ته د ژوند

ښکلي اخلاق یې هر انسان ته ګټور ثابت شي
مظلوم ته لاس ، خو ظالمانو ته ځواب لري توند

---

را تاو شول د عــــــــربو ځوانان بیا له میکدې
عجـــــــمو کې هم شور دی اذانونه او سجدې

که خدای کول را وینښ شول د امت ویده زلمي
توپکو پسې کرځي غــــــورځوي د غرب پیالې

غیرت د افغانانو ، او تازه تازه حملــــــــــــــو
را وینښې کړې جهان کې د مؤمن نــــوې جذبې

پوره به شي هر خوا ته د بلال نیمګړی غـــــــږ
روانې شـــــــــوې فضا د اندلس کې بیا نعرې

وینښ شوي دي له خوبه د یوې پېړۍ ویده
شروع شوې د نړۍ په هـــر میدان نوې جګړې

مین د سپینو حـــورو ، فدائي جانان برید کړی
په منځ کې د کلا د انګریز پورته شوې لمبې

شپېې د انقلاب دي ډېر حساس او ويښ اوسېږه
په څنګ کې ګرځــوه يو تور خنجر او تمانچې

اسباب خو دومره نشته بس تکل د يــوه خدای
د شپې تهجد پرېنږدې ، تلاوت ســپينې تسپې

ورغلي کاروانـــــــــــــــــونه د ملت د ککريو
جرګه کې ســـباوون ته څو رڼا کړي دا تيارې

راشــــده نور را اوځه دا محفل د ناستې ندی
ښــکاره شوې برې خواته څو مرموزې اشارې

۱۴۳۳ هـــ ق

لکــه توحيد چې له ايمان سره په زړونو کرځي
د خپلــواکې فکر مو داسې په خيالونو کرځي

ځکه په تمه د وصــــال له لاندې لاس غــزوم
پاس يو ټولی د زاڼو بيا په دنګو غرونو کرځي

دا د زمريانو کومه ډله ده د ښــکار په تـــکل
که د غازيانو کوم کاروان په سنګرونو کرځي.

بيا مرور اشنا په خولا شو په خندا يې اوويل
نور دې غماز او رقيبان په دورشـلونو کرځي

تقدير غمجنه پرېکړه وکړله بيلـتون يې راوور
زلمو جنون ته ملا تړلې په ځنګلونو کرځي

ټولی : کتار . دورشل : د دروازې مخه ، او چوکاټ .

که د خدايي قانون ماڼيو ته ښه وړانـدې لاړ شې
د فتنې ورځو کې ايمـــــــان سـره بازار نه منـي

وايي رمه در سره واخله ، د لوړ غره په لوري
يا جهاد وکړه کنه فســـــق دی بل کار نه منـي

د مخ ليدو يې له حـيرت نه تر غـوسې بوتلـمه
ځان لـه ټولي ګڼي ، خو حکم د سالار نه مني

غواړم نجون ډوله هلکان دې ژوند ته نذر کړمه
ګرانه غازي چې پاک ضمير دې بلــه لار نه مني

همزولو بند به کړو نفسونه د تقـــوا محبس کې
پــه پړو اوښ ترلی کيږي ، نری تار نه مني

چاچې په زړه کې وي د لـوی الله لويي منلې
هر يو پړاو ګڼـــــي شکرې ، بل ګفتار نه مني

راځئ يو داسې اسلامي نظام ته هــڅې وکړو
چې ظالمان سنګساروي مظلوم ته دار نه مني

۱۴۲۷ هــ ق۲۰۰۶ م

همت د پورته تللو یو کمکی مرغه شاهین کړو
د جسم رنګ یې تور خو ښو اخلاقو لونګین کړو

کامیابه او ناکام انسان بس دومره لري فرق
ستر عزم یو سالار دوهم کمکي عزم مسکین کړو

د یو عمر ملګري یو شو ستوری بل تور داغ
تقدیر منو ،خو دی خپل اختیار او لاس کمین کړو

هغه هم یو مؤمن وو ، نه مَلَکه نه اصحاب
غیرت ، علم میړانې ستر فاتح صلاح الدین کړو

ډیر ژر به د عزت تر لوړ اسمانه ورسیږي
که خپل هدف ته ،یو ، چا توره شپه او ماسپښین کړو

شاهین د لوړو غرونو او زمری د سنګرونو
سالار دلته په ځمکه انسانانو هر امین کړو

ډیر نه غواړي کړاو د عزتونو او خوند ژوند
راشده که بیدار شولې او رب ته دې ځان سپین کړو

ذي الحجه ١٤٣٣ هـ

ای د تورو شپو غُبــــاره ! ګوره ته
بيرته واخــــله خپله لاره ګوره ته

زمونږه عـــــزم طوفاني دی تا به يوسي
ځان دې تېـرې وربڅې شماره ګوره ته

دلته راغــلې ستا وينا وه چې باران کړم
تروږمۍ شــوې بې ســـهاره ګوره ته

اوس بيا هغــه ته ، چې ته يې را ليږلی
نږدې شـــــــوې تر درباره ګوره ته

يو ځـــپاند لښکرخوزښت وکړ راشــده
ژر به يې اوباســـي له ښـــاره ګوره ته

۱۴۲۸هــ ق ۲۰۰۶ م

تروږمۍ : د شپې تياري . ځپاند : هغه چې ځپې وهي .

ګرانه راشــــــــه څو دردونه در ښکاره کړم
د ځېلي زړه زخـــــــــمـونه در ښکاره کړم

چې يې سوی دی زما زړه په خوزښت خپل
د دې وخت ظالم موجـــونه درښکاره کړم

اسـتوګن چې شو د ښکلـيو شــــــازلميانو
پورې ځيـر شــه ها ! کـمرونه در ښکاره کړم

خپله لوړ شو وطنوال يې کړل په خــاورو
د خاين سړي رســـــــمونه درښکاره کړم

بې لوګيو چې سوزښت کا زمونږ په قام کې
د پرَدو هغــــــــه اورونه در ښکاره کړم

کافران يې چې کوښښ د خپېدو کړي
بيا اوچت هغه غـــــــرونه در ښکاره کړم

که آزادي ته نذرانه نشي سرونه ندي
زلمي که ماتې ترورمــــې نکـــړي لمرونه ندي

چې د غزا ډګـــر کې پورته شي آواز د تکبـير
دښـــــــمن بيا وايي دا وو تندر نور غړونه ندي

چې پرې تړلي فرعــــــــــونيانو د ملت شازلمي
د اکثريت بې همتي ده ځـــــــــنځيرونه ندي

يو وار به بيا تر منځه ورشو پروت تر شـــايې جنت
د حـورو مخ نه تاو شُعلې دي سـره اورونه ندي

جنتي پيغلې به سروپړدی درته سپين مړوند کړي
غازي ســـــتا ويښې انتظار دی شوګيرونه ندي
چې د باطل له کوره څوک کوي آواز د اســلام
راشـــده دا ده مسخره د حق شـــــورونه ندي

۱۴۲۸ ق ۱۳۸۵ هــ ش ۲۰۰۶ م

سروپړدی : بالښت . ويښې : ويښې او بې خوبه شپې .

دا منمـــــــــه چې بهار شوې انقلابه
د وحشت شــــــپوته سهار شوې انقلابه

زولنې او زندانـــــونه درته مات شول
دښـــــمـنانو ته لوی دار شوې انقلابه

پرغلـګـــر وجـود دې مات کړ دړې وړې
د شاهین د ډلـــــــو لار شوې انقلابه

خو ډیوه د عــــــرفان تته ستا څپو کړه
اور د ونــــــــو او بازار شوې انقلابه

زما وجود خوري نېک عمله مؤمنان تل
ویـــندوی د دې ګفــتار شوې انقلابه

د ملت کـــکرې ستا په ژرنده دل شوې
د حریت د غـــــــــلو ښار شوې انقلابه

خپلـــواکي دې د راشدکلي ته راوړه
په تاریخ کې ښه ورځ شمار شوې انقلابه

تته: هغه چې رټاپې کمه وي . ویندوی: قائل . ککره: سر . د کمیونېزم او روسانو پر ضد د سپېڅلي انقلاب په یاد کې.

---

یوه خـــــــــــړیکه اسویلي شي د ستا یاد
نرۍ لار وکــــــــــړي پر لوري د مراد

زمونږ د میني هـــــر کیفیت زرین چارګل ته
په سجده دی"مؤمن خان" "مجنون" "فرهاد"

زمونږ هدف، سپیڅلی خدای او سپینه حوره
ډېر "شیرین" له "شیرینۍ" "لیلا" او ښـاد

حقـــــــــایق دي ،نه ، نکلونه د بایبل دا
ټول اســـلام د محمد (ص) په سیند اباد

د لوی رب په الهام جوړ نصرت نافذ کړو
هر یو کار مو را تم نکړو هر یو خاد

زړه کې مـــینه د ایمان ، کـــرکه د کفر
دا معنا ده ، د راشــــــــــــد او د رشاد

۱۲ ربیع الاول ۱۴۳۲ هــ ق ۱۳۹۰ هــ ش

شیرین او فرهاد : د فارسي ادب ، لیلا او مجنون : د عربي ادب ، مؤمن خان او شیرینۍ : د پښتو ادب حقیقي یا افسانوي عاشقان . خاد : د جاسوسۍ شبکه

دې ترورمو لره ډيوه شه ، د توحيد سندرې !
د ملـــغلرو ښه غونچه شه ،د توحيد سندرې !

له دې درو نه د خــــوښۍ مرغانو کډه کړې
سـپېره ګلبڼ ته تــماشه شه د توحيد سندرې !

ساقي خفه ده ياران نه غواړي شـراب په مينه
يوه ورمه شــــه را خوره شه د توحيد سندرې !

د ضمــــيرونو دا پيغام دى چې د غور له لارو
زمونږه کـــور ته مېلمنه شه د توحيد سندرې !

د عـــــاشـــــقانو مجلسونو کې په مينه مينه
له خپلواکۍ سره خپره شه د توحيد سندرې !

د شهــــيد روح درسره راوله تنها مه راځه
هـــغه به وي ته زمزمه شه د توحيد سندرې!

دې بُت خانو ته د غازي بيرغ سره را درومه
د ابراهيم د وار څپه شه د توحيد سندرې !

راشـــــد له ځانه سره وګرځوه هر يو لور ته
د ملائک د اس رمه شه د توحيد سندرې!

---

دا کمکی خـــیال وړوکي زړونه جهان څه پېژني؟!
لـــــه حـــــقیقت نه ناخــــبره لقمان څه پېژني؟!

د سمندر له نه منونکو نه ګـــــــــــیله نه کېږي
د سمڅو خلک به هسکـتوب د اسمان څه پېژني؟!

مونږ یې معذور ګڼو که خیر د اسلام نه مني څوک
د ګلاب بوی به استوګن د ډېران څه پېژني ؟!

عمر یې تېر کړلو غافـــــــله د ابلیس کلتور کې
دا د بائبل شــــــــاګردان راز د قرآن څه پېژني ؟!

چې شپه او ورځ لکه مرَیَان د دښمن مخ ته ښوري
خوند د سنګر ، شنې سردرې ، او بازان څه پېژني ؟!

له یو مطلبه ، تر مطلبه چې په صف را ګـډ شول
د غازي قدر ، زمونږ شهید او ارمان څه پېژني ؟!

د خدای د دین خدمت کوو مین په سپینو حورو
په سخته ورځ کې زمونږ خندا جاهلان څه پېژني؟!

له کلي کـــور نه بې پروا عاشق د سر په بدل
خپل مطلب غواړي خطرناک دښمنان څه پېژني ؟!

څوک چې خبر دي له جنت او د جنت له حورو
هغوی دردونه ، مرګ کړاو ،او زندان څه پېژني ؟!

په پَردو پټه ده ښکلا د فدايانو د راز
جاهل سړی د غه پردې د ايمان څه پېژني ؟!

کلتور : ثقافت . مريان : غلامان . بائبل : د پرنګيانو ديني کتاب.

## يو راز

تر باغه لارويان ، نه غواړي لاره کې مېوې
په زړه کې دې ځای ورکړه نوم نه غواړي پر سينې

زه اوس پوه شوم په راز د زاهدانو د ژوندون
سفر کې روژه شوي څو خوند واخلي له چينې

کله ناکله خو کوه خبرې
زمونږه زړونه بدلوه خبرې !

په تصور د مال دولت او زرو
د زاهد زړه مه کړوه خبرې !

پام چې پېغور د اَسارت ور نکړې
دلته زلمي به کړې غوسه خبرې !

د تاریخ لوی کور کې به ځای نلري
که دې ځوانان نکړل جذبه خبرې !

د فسق پانې او ټیپې ترې تم کړه
مَی د اخلاقو ورکوه خبرې !

راشد په مینه دی حجاز ته روان
که الله وکړي ورته دوه خبرې !!!

۱۴۲۷ هـ ق

پیاله کې د شکرو مې وي پروت د بلا سوری
اُفُقْ کې د خوښیو هم څرګند شي د غم ستوری

بادونه چې کوم وخت ترینه څادر کاندي را پورته
ښکاره شي زهر جنې توطیې او د شر لوری

نیمګړی شي دنیا کې هر ساعت مو د خوښیو
دا ځکه چې جنت کې بیا پوره وي هر ښاغلی

د دې جهان مثال لکه مزلونه ، لکه خوب
په ځای نوي کلونه ، نه یې میاشتې او نه کلی

عالم شه با عمله ، مصنف ، عادل بادشاه
روغ ساتي تر قیامته به هر زړه ستا د یاد څلی

۱۴۳۴هـ ربیع الأول ۱۳۹۲ هـ ش.

مه کـــــــوه ، آه به یې سیندونه سره و جنګوي
ظالـــــم به ورک کړي که لاسونه سره و جنګوي

مظلوم ته رب کله دا ټول نظام اختیار کې ورکړي
که دې وي خوښـــه دوی به غرونه سره و جنګوي

د فرعـــــــــونیانو بادشاهي لښکرې نه ړوي
د مظلوم اوښـــــــکې یې تختونه سره و جنګوي

ظالمه !ساندې اسویلي یې دومره سپک مه ګڼه
جوړ به شـــــرنګا کړي که غرونه سره و جنګوي

له هیبتي ګــــــــوزار دې ځار شمه غازي زلمیه!
د دښـــــمن کــــــوکې او سرونه سره و جنګوي

راشده خلک کړه خبر چې بیا خیر خـوا غمازان
را روان شوي ، څو زمونږ زړونه سره وجنګوي

سپینې تسپې یې په لاسو،د ورور ورور چغې وهي
په نوي ګوند ، به ،جـوړ صفونه سره وجنګوي

۱۴۳۰ ـ ۱ ـ ۶ هـ

سانده ، ساندې: فریاد. کوکې : فریاد

جونګړه د حیات  مې وی  د  غــرونو  دُنیاګۍ
څو اوښې راســــــره وی یوه  ښه توره کیږدۍ

کوربه مو  شین اسمان د غرو   لمن ځلانده ستوري
سیندرېږي ، غوړمرغه  ، کوړا ، کټونه او ماخۍ

اســباب  د زندګۍ  مې  دوه کَټوې یو شینکۍ وی
ډبره  مې ســـــــــــرووېږدی  یو لیمڅې یوه شړۍ

کوم دوست مې که راغلي وو  پوښتنې ته  د حال
ډالۍ  د  مینې   زما   به  وو   غاټول او لېشکۍ

خوښي مې په ژړا کې او تل تاته  په  سـجدو  وی
دښمن لپاره ایښې وی تر  خـــــــنګ مې  زیږکۍ

مؤمنه  په ایمان پسې د غره   څـــوکو  ته  لاړ شه
د اور او باد مثال لري  تقـــــــــوا    او جینکۍ

۱۴۲۸ هـ ش ۲۰۰۷ ـ ۱ ـ ۱

کَټَوْ ، کَټَوې: د پخلي خاورین لوښي. شینکۍ: د کاسې په څېر خاورین لوښی. لیمڅې  له وړیو نه جوړ شوی فرش. لېشکۍ : یو قسم ګل. زیږکۍ  :  یو قسم وسله.

سیندرېږی: یو غریبز ازغن بوټی . غوړمرغه : د ګیا په څېر یو شین ولاړ بوټی ، د کوچیانو اوښان او رمې یې خوري . کُوړا : یو ازغن ګرد پروت بوټی، کټ  : کمر.

د رحمت او تقَدُس يو ستر جهان
د شپې راشي زمونږ د ځمکې تر اسمان

د خدای پاک او پرښتو د نور له وړانګو
رڼا شوی وي هر لوری هر دالان

يو آواز کيږي د ستر مالک له لوري:
که څوک وي چې ور پوره يې کړو ارمان

هر مجرم بخښم او هر حاجت به ورکړم
که را پورته کړي څوک لاس عاجز ګريوان

لوی بادشا غواړي دردونه مو درمل کړي
پرښتي خپور کړي پر ځمکه دا فرمان

بس ور پورته کړه نور لاس ، قلم دې کيږده
داسې نه چې درنه تېر شي دا کاروان

۱۶ ربيع الثاني ۱۴۳۴هـ

---

د وخت زلـــــمي يو له بلا سـره ډغرې وهو
دعاشق زړونه له ښکلا ســـره ډغرې وهو

پاک شهادت او پاک برى ،دواړه ارمان زمونږه
لـــــه مايوســــــې پرته بېګا سره ډغرې وهو

د تروړمـــو بهيره ولې غمېدلى ښـــــکارې ؟
تاخــــــــــو ويلې چې سبا سره ډغرې وهو

آ ، بې درکه زلمي بيا په روڼ ډکـــر ولاړ دي
وايي اورونــــــو او سزا ســـــره ډغرې وهو

دښمن چې اوخوړل وارونه د افغان د تورې
ويل يې توبـه چې بيابه تاســـره ډغرې وهو

۱۳۸۳ هـ ش ۲۰۰۶ م

بهيـر : سلسلـه .

---

د قربانۍ رویبار به ژر مونږ ته سهار راولي
د پاک شهید د وینو څاڅکي به بهار راولي

دا مو یقین دی په الله ج او د تاریخ په پاڼو
دغه غدار به هم ذلیل زمونږ تر دار راولي

د فتحې ورځ به د دیدن او د سجدو تالار وي
تقدیر به بیا هریو اشنا په هره لار راولي

د زمانې عادت به بېرته په دا بل لوري وي
د انګرېز سر به زمونږ د تورې تر ګوزار را ولي

د فتحې جشن ته راشد او ټول دینې اشنایان
کمکی یتیم قدم، قدم، په لاس کې هار راولي

۲۷ ذي الحجه ۱۴۳۰ هـ ۱۳۸۷ هـ ش

هر ولس ، یوه لار ونیوله لاړل
تر قیامته د دې ستوري په مزل کې

تقدیرونو سره ووېشلـــــو داســـې
څوک کافر څوک مسلمان شو دې ځنګل کې

د کمال او پر مختیا په رڼ هدف کې
شو را ګیر لوی مسلمان د بلا پَل کې

خلک وايي : تر سپوږمۍ ختلی ندی
پښتون پاتې دی خپل ځپر او غوبل کې

خو ، هوا ته پورته تلل کوم کمال ندی
کنه شمار کړه ، د کارغه نوم په اتل کې

مونږ یو ډېر بره ختلي له سپوږمۍ نه
د معراج په نوم رسول مو یو محفل کې

بیا مو راوړلو له عرشه د خیر زېری
هم ثابت شو خیر خواهان په خپل عمل کې

دوی سپوږمۍ ته وو ختلي بيا يې راوړل
سره اورونه او تيارې ، په سور څنګل کې

انګرېزانو هر شی وپېژاند ، خو ، ورک دی
ترې انسان د تخليق راز په خپل دور شل کې

۱ شعبان ۱۴۳۳هــق ۱۳۹۰ هــ ق

## راز

دنيا پرېږده نو دنيا به درته راشي
مرګی غواړه د ژوندون ښکلا به ستا شي

ځان دې ټيټ کړه د الله هر يو مخلوق ته
د لوی خدای دربار کې شان به ستا بالا شي

## زمونږ ادب او ټولنه

کاشکې ټول ادب مو خپل وی ،هر ادیب مو پوهېدلی
عالمان مو ادیبان وی ، مسئلې یې را لیکلی

د افغان په نوم جوړ ګوند مو ، احمد شا سم پېژندلی
د اجمل بابا ملګرو د اسلام قانون غوښتلی

دا زبیر شفېق وینې شوی ، فردینان یې بیا غندلی
د اسلام په نوم آصف ننګ ، بې ننګي نه خپرولی

لوی شاعر او لوی ادیب مو ، د غرب لارې نه څارلی
ځوان تاریخ د اتلانو ، لیکوالانو را پېیلی

خپل هیواد ته فکر کړلای ، زمونږ د چم ټولو پوهانو
د سنګر خواته مشرانو په غازي شفقت کولی
مدرسې او مکتبونه مو ، د خپل فکر چینې وی
هر عالم او معلم مو ، شاګردان په دین روزلی

---

کاشکې بیا افغان یو شوی ، یو یې ځواک یو یې آواز وی
د کوترو خوی یې ، پرېښی ، هر زلمی مو لکه باز وی

هر هلک مو عبدالله وی ، هره پېغله زُهرا شوې
د سنګر لور ته روان وی ، قربان کړی یې هر ناز وی

ملایانو دا ویلي ، نورو ټولو اورېدلی
چې جګړه زمونږ او انګرېز ده ، دا خبره هم د راز وی

بډایان مو سره یو وی ، د غازي مرسته یې کولی
د دنیا له هرې خوانه ، په لوېدیځ که په شېراز وی

پښتنو بیا له لوړ بام نه ، قیادت ته مَلا تړلی
خو چې ټول سره یو شوي ، رنګ زېړ شوی د غما ز وی

بیا پاڅون له کابل جانه ، د انګرېز په سر ګوزار وی
بیا میوند میوند هېواد وی ،هسک بیرغ مو په قفقاز وی

۱۴۳۳هـ ق ۱۳۹۰ هـ ش

---

خوښيو ! ورشئ په هغو خورې شئ
په مهجرونو ، سنګرو خورې شئ

دا لوی اختر تاو کړئ په ښکليو جامو
د يتيمانو په حُجرو خورې شئ

د شهيد مور ته د خوښی پړونی
ناوې ته شال شئ په اوږو خورې شئ

د عرش پيغام او بشارت د بري
د مجاهد ورور په لېمو خورې شئ

څو ورځې تم شئ د راشد کلي کې
په لوی، ماشوم،او جوماتو خورې شئ

لوي اختر دوهمه ورځ ۱۴۳۰هـ ۱۳۸۷ هـ ش

---

د مؤمن هیلې ! ستا سالار هغه لمر بیا را خېژي
د اسلامي نړۍ د ورځې سحر بیا راخېژي

په خراسان ، شام او عراق کې یو شان غږ اورمه
عمادالدین او ایوبي په ممبر بیا راخېژي

نور له خوبونو او مېلو تنګ شو زلمی بهیر مو
له محفلونو د انګرېز تر سنګر بیا را خېژي

په رڼا ورځ غربیانو زمونږه فضا توره شپه کړه
په لاس یې لرې کړلې وربځې سپین غر بیا راخېژي

چې ویشتل شوی وو په غشو بیا ټوټه په اَرُو
د وحدت خلی ها چنار او نښتر بیا را خېژي

لکه قارون ډېر مفسدان په ځمکه ننوتل
د عدل دار ته هر بلعام او شمر بیا را خېژي

د عظمتونو ټولې ورانګې ورته تتې شولې
د استشهاد کاروان په هر یو ډګر بیا را خېژي

## چې په حطین او په میوند کې به غوټې پرې وهي راشده ! زمونږ د شاهينانو وزر بيا را خپژي

۱۲ـ جمادی ثانية ۱۴۳۴هـ ق ۱۳۹۱هـ

**ځوانه !!**

**مونږ تر يو وخته ماليارې د دې چمن وکړله**

**ځوانه ! اوس تاته شو در پاتې چې غافله نشې**

**که مزل اوږد شو ، يا په لار کې کجلېچونه راغلل**

**نصرت به راشي چې مايوسه له ساحله نشې**

---

راشه زمونږ د زړه او مینې جنډې
د حماسو سالار زرینې جنډې

د ځانځانۍ اور او ملي ناورین ته
د وحدت غږ شه ګلورینې جنډې

بیا له کاشغر نه تر قبرص وَرپه
د اسلام واک شه نازنینې جنډې

په اسلامي او افغاني خویونو
ټول کافران مات کړه شیرینې جنډې

له صلیب ځای ونیسه زیږی راوړه
زمونږ د میوند زمونږ د سیمې جنډې

---

زه لا ژوندی یم زما احـــساس ژوندی دی
لینده مې شته زین کـړی آس ژوندی دی

چې مو نیکونو پرې دښـــمن مات کړی
هماغه توره هاغــــــه لاس ژوندی دی

خلک قانع کړي سپېلني شي ورته
د وحیې ډک تازه ګلاس ژونــــدی دی

د هر چم اوښکو ته وریښمین دسمال شته
د طارق روح شـته دی اِیاس ژوندی دی

لاندې په ځمکه یو بې شـــــــمېره زلمي
قوي ناصـــــر او رب مو پاس ژوندی دی

چم : کلی . وریښمین : له وریښمو نه جوړ .

طارق بن زِیاد رحمة الله علیه : یو مشهوره مسلمان قومندان ، د اندلس فاتح . اِیاس بن مُعاویه رحمة الله علیه ، تابعي او د عمربن عبدالعزیز په خلافت کې د بصرې قاضي وو ، په ډېره هوښیارتیا او عدالت مشهور وو ، په ۱۲۲هـ ۷۹۳ م کې وفات شوی. .

---

د حق  سپېڅلې وړانګې ستا بهير ته نه تتېږي
تيارې ! بس وار دې تېروه ځاله دې نه جوړېږي

تقدير  ليکلي دي په کاڼو کې     دلـــوړو څوکو
دې سر درو کې څوک تر شوم  مُرامه نه رسېږي

ضمير يې ځاله د غيرت زړه کې  ايمان  لري  ټول
په  لاس کې توره د جـهاد جذبې يې نه سړېږي

په  مخ يې څرک د ښکلا ښکارې زړونه ډک له  مينې
خندا  او فــــــکر سره يو ، له مونږ نه نه بېلېږي

الله وركړى په ډالۍ کې د ازل  راشــــــــده
افغان  ولــــس  ته دا عادت چې چاته نه ټيټېږي

وړانګه : رڼا . زرين : د زرو غوندې . څرک : د رڼا کرښه .

---

زه يو خــوب وينم چې کله به رښتيا شي !
د وحشت دا تورې شپې ټولې ســبا شي

د نړۍ په اسمان بيا د اســــــلام لمر را
پورته شـــــوی ، تروږمې ترېنه ځلا شي

دا جهان راته خالي خالي ښــــــکارېږي
ساېې خېژي ورو ، ورو ، ورکه ترې بېګا شي

هر نظام ځالې پرېږدي خدايي قانـون ته
اسلامي ځـــواک را نازل بيا له سما شي

نور را وينښ شه ، انتقام او فرض پوره کړه
دايقين کړه چې زمونږ خوا به بيا بالا شي

۲۶ ــ ذوالحجه ــ ۱۴۳۲ هــ

په هره خوا کې خوښي نشته تور غمونه ښکاري
د ژوندون بڼ کې سپرلي ورک دي خزانونه ښکاري

لـــــکه نږی چې وي جـــــفا او اسويلو نيولې
خـــــفه وفـا غـمجـن د مينې کاروانونه ښکاري

بيا په ازغنو لارو سم شولو د رب په حـــکـــم
هـــــر ځاي بلا وې ژَوَرْ پانې او کړنګونه ښکاري

د دې تيـارو لـــه دربخـو نه د امـېد پر افـــق
هاغه سبا ! سپينې سپېدې او لـــــور سرونه ښکاري

له څو پېړيو پو کـوي څو مړه کړي زمونږه ډيوه
وار يې خُنثا ،کور کې يې نوي اذانـــونه ښکاري

راشده ! دا د يو بدلـــــــــون او سعادت نښه ده
هرځاي جومـات ببرې رېرې سپين مخونه ښکاري

۱۴۳۲هـ ق ۱۳۹۰هـ ش ۲۲ ـ ۷ ـ ۲۰۱۱ م ۵۵: ۱۲ شپه

---

شېخه له نورو خو ٚکیله نه وه ، په تا څه وشول؟!
ستا ارتداد خلک حیران کړلو چې دا څه وشول؟!

غربي ډمانــــــو چې د ډول اثر ته ته ولـیدې
خپلو کې وپسنېدل ،وېویل چې رښتیا څه وشول

د مَیخانې واکــداران بېرته ژړا غوني ښکاري
وایي : زمونږه خو عــادت وو په مُلا څه وشول؟!

له شپې نه تـــمــه د رڼا خو د جنـون نښــه ده
راځئ پوښـــتنې ته یې ورشو ، په سبا څه وشول؟!

په خپله برخه کې را لیږي د غـــمونـــو کاروان
زمـــونږ لـــه سیمې مروره ، په خندا څه وشول؟!

ډېره موده وشوه چې نه راځي په دغــه لوري
لکه چې بیا یې غوسـه کړې په اشنا څه وشول؟!
لاړې ازغنې دي نور وړاندې یون کولی نشـو
راشده! سترګې که لمدې، که په دُعا وشول !

۱۴۲۸ هــ ۱۳۸ هــ ش ۴ ــ ۳ ــ ۲۰۰۷ م .
ارتداد : کافر کېدل ، له کافرانو سره درېدل . می خانه : شراب خانه . یون : مزل .

---

لکه د شنه اســـمان په وربځو کې چې زانه راځي
د خوښۍ اوښکه يې شي دا ، څو تر ګرېوانه راځي

خَوَلُو يې داسې قدم اېښی په ښايسته انګو
لکــه شـــبنم چې لــــه ګـلابه تر پايانه راځي

دا تورې غټې سترګې،سپين مخ، دا نرۍ ملا ګانې

همزولې نجونې، تور زلفان، لکه دُر دانه راځي

بې مثله عطر، رنګارنګ جامې، زرين محل کې

ورېښمين پالنګ ته،په ناز ناز ، او هر ارمانه راځي

سپرلې د حـــسن ته مغروره حُوره داسې وايي
نه تور خزان شته،نه څپاند تر دې دالانه راځي

نرم څنګل، ښکلي اخلاق، د جنت سيورو لاندې

شودې، شراب، په اشاره هر شی پرېمانه راځي

يوه ســيلۍ د تما شو به شـــم در پرېمېږده ته
ژر ، ژر به تاو شـــمه له ګله ، څو باغوانه راځي

شېخ يې دوكه كړ ،د غرب مينې يې ايمان تالا كړ
دنيا د ښـــــــــــكليو په جامه تر بيابانه راځي
دوهم بلعام شي، دجال خلكوته مؤمن ثابت كړي
دې ملايانو ته عـــــــــــذاب به له اسمانه راځي
بيا به د حق قاضي او تورې منځ كې هک ولاړ وي
له غدر ډكې كپرۍ به يې تر ســــندانه راځي

۱۱ ـ ربيع الثاني ـ ۱۴۲۸ هـ ق ۱۳۸۵ هـ ش ۲۰۰۶م

ځپاند : سېلاب . سيلی : د هوا څپه . هک : حيران . كپرۍ : سرونه

## سپک دوست

ډېر بد ايسي چې باز كوي ګفتار لكه د سپي
سره زر نه ځي په لاره د خځلو او لرګي

اشنا مې وو ګڼلی دروند له ستورو د اسمان
سپک وخوت،له وښو، لوټو، هډوكو او هر شي

---

خدایه ښه ښکاري ،جدا نکړې خواږه زړونه یوځای
تور او سپین وروڼه ، سره ښه ښکاري ګلونه یو ځای

وصاله ستا معنا پکې ده، ځکه شتون لري ډېر
لاس په لاس ستوري سپوږمکۍ او اسمانونه یوځای

هغه شیبه هغه ترانګه د ښــــــــــکلا انځور شي
اُوبه چې خپلو کې دیدن کا ،شي سیندونه یو ځای

دوستان خو داسې سره نکړي،دښمني ښکاريږي
په شــــمه برید کړي بې پروا شاپرکونه یوځای

غدار را ونیسئ ،په زړه کې یې مېوږي ټک وهئ
د تور جاسوس تر څنګ یې وکاږئ قبرونه یوځای

پرې خطا نشې ، دا بلعام دی ، د عالم جامه کې
مرۍ یې پرې،سیند ته یې واچوئ سرونه یوځای

هغه قومونه وي کامیابه ، چې یو ځای ګرځوي
په زړه کې خیر ،لاس کې توپک او قلمونه یو ځای

**جهـــــاد به هله بريمن شي که دا څو شيان وي**
**عادل مشران ،يو څه اسباب ، نېک عملونه يو ځای**

**سره را ټول شئ بيا يو ځای کړئ د نړۍ مؤمنان**
**په د ښمنانو باندې پيل کړئ ګوزارونه يو ځای**

**راشـــده ! صرف په يو واړه عمل ځان مه غولوه**
**ته د اســــلافو په څېر وکړه ډېر کارونه يوځای**

بلعام بن باعورا : د بني اسرائيلو په يوه سيمه کې يو لوی بزرګ وو ، اسم اعظم يې ياد وو ، دُعا به يې قبلېدله ، موسی عليه السلام د ده قوم ته له خپل لښکر سره د جنګ په تکل ورغی ، هغوی جنګ ته تيار شول ، له جنګ نه مخکې هغوی ټول بلعام ته را ټول شول چې موسی ته ښېرې او بد دعا وکړي ، بلعام په خره سپور د هغه غر سر ته راغی چې لاندې ترې د موسی عليه السلام لښکر ولاړ وو ، ښېرې او بد دعا يې پيل کړې ، ژبه يې واووښته ، د موسی عليه السلام په ځای يې خپل قام ته ښېرې کولې ، بيا يې ژبه را اوږده شوه ، تردې چې په سينه يې لګېدله ، بزرګي ختمه شوه . لعنة الله عليه .

الله تعالی يې په قرآن کريم کې د الأعراف سورت په ۱۷۵ او ۱۷۶ آيتونو کې يادونه کړې ، الله تعالی يې مثال له سپي سره ورکړی .رب مو دې خاتمه په ايمان کړي . آمين .

تاته د ناقـــــوس کړی شیطان حکم
ماته مې رب کـــــــړی د اذان حکم

ته د بایبل د افســـانـــــــــو مُرِیدْ
زما مُرشِــــــــــد نبي او د قرآن حکم

ځکه مـــــو "دوه لاری" مخ ته ودَرېد
ستا لاربنـود تیارې زما د سبحان حکم

دلته یو قانـــــــــون را چلېدلی دی
رب ته ســـرټیټې ، نه د بل خان حکم
مونږ ته بیا ګلان شي که خدای اوویل
بیا شــــــــو تر اورونو د ایمان حکم

ناقوس : غټ ژرنګانی ، مسیحیان یې د اذان په ځای کاروي . یزدان : شیطان . بایبل : د پرنګیانو مذهبي کتاب . لاربنـود : مشر، هادي .

---

که اســــــــــــلام نیسم قرآن نیسم کړېږم
کــــــــه منم د وخت غـږونه نو غورزېږم

صرف پدې چې ایماني بڼ مو خپل کړی
تل  د خــــــــــــپلو او پردو له ځورېږم

بیابانونو کې د ستړي انســــــــــــان ربه !
ته چې څــــــه وایې ، هغې ته به رسېږم

زما  د  عـزم  څلی  لوړ دی تیټ به نشي
سیلابونـــــــــــــو ته د غـره په څېر تمېږم

د وحشت طوفانه ! نور هم الوت لوړ کړه
بَلْ مشــــــــــــال یم له مظلوم سره بلېږم

که د حق لار کې ژوندی ټوټه ټوټه شـم
شهادت دی ، هر مــهال ورته خوښېږم

زمونږ مَیْلان خو  د  اوبو په بره  تګ دی ان شاء الله
خو چې بل کوږ شي والله پرې خپه کېږم

که د کفر وربځې جـــوړ دلته تور تم کا
هر ډ‌ګـــــر کې به د لمر په څېر ځليږ م

له نړۍ نه بې پروا يو ، پاکـــه ربه !
خو د ستا له هېڅ قانــــون نه ، نه تېرېږم

هر لښکر چې ځي په لـــــور د دښمنانو
زه راشــــــــد به يې بيرغ سره رپېږم

۱۳ ــ محرم ــ ۱۴۲۶ هـــ ق ۲۰۰۶ ، ماښام.

يوه درد منه صحنه .

بڼ : باغ . مشال : ډيوه . څلى : مينار . د کابو ډېرى . الوت : پرواز .
ميلان : کږېدل ، کفر ته ورتلل .

## ټوټه

عذاب مو پايلې د عمل ښکاري طوفان ندى
بل څه ازغي را پياده کړي دي اسمان ندى

د کرکې وده زمونږ د زړه او خپلواکۍ تر منځه
د يو فکري تسخير انجام ښکاري وژدان ندى

پرواز وکړه پر لوري د عروج او د کمال
ستا مې کې رب توان ایښی له جنوبه تر شمال

له فقر دښمنانو او سختیو مایوس نشې
دا ټول دي د دې ژوند لازمې برخې او احوال

په عزم ، لوړ همت او کړاوونو رسېدلي
هر څوک د دې ژوندون تر رنګینیو او سور شال

ما ډېر فقیران ولیدل تقوا او زیار شتمن کړل
او ډېر بې علمه خلک هم شتمن د حال او قال

خزان او پسرلي ، تیارې او لمر په
مخلوقاتو بدلېږي را بدلېږي په خوښیو او
خوشحال

مادې او معناګانې تریو بله غاړې ووځي
نصیب یې سره ویشي بې له ستونزو او
جنجال

د تورې او قلم د اوَښتون په لوی میدان
هغوی ولاړ په څنګ کې د صلیب مونږ د هلال

هر کار د کایناتو د باد شاه په خوښه کیږي
دوستي يې کړه پخه راشده ! یون يې په مقال

---

پرېږده نـــور د مينې او جانان کیسې
و کــــــــړه د یثرب او د اسمان کیسې

بیا یــو "ابوذر" "جُنېد" "بصري" غواړو
څـــو دلته اعلان کړي د ایمان کیسې

تولــــــــــه نړۍ تړې هر یو زړه تړی
غـــــــــږ ته د بلال او د اذان کیسې

پو کړئ په هـــر لور د حماسو شپېلۍ
عامې کړي د ننګ او تېر افغان کیسې

بیا به پسرلی شي بیا به شپون راشي
غواړي به زلمي د کوهدامان کیسې

۱۲۳۲هـ۱۳۸۹ ش ۲۱ ـ ۷ ـ ۲۰۱۱ م

---

ورو ، ورو ورکـــېږي د بدۍ ستورى
ښــــکاري غازي د آزادۍ ســـتورى

اي د وحشت اســـمانه ستا کِنار کې
بيا را ژوندى شـــــو د نېکۍ ستورى

لکه قاصـــــد چې وي د لمــر د خبر
په خندا ښــکاري د سپېدۍ ستورى

پدې روان ناورين کې ځل وهي بيا
د جنګ ډګـــر کې د پګړۍ ستورى

لمرين پانوس شـــــو د تيارو بهير ته
د شاهي کوټ د خولګکۍ ستورى

۱۴۲۷ هـ ق ۱۳۸۴ هـ ش

. پانوس : څراغ .

---

کـــــه ياري غواړې د ګل
کـــــړې به لار د ازغو پُل

ډېرانو کې نه اوســـــــيږي
د کــــــــوثر د باغچې ګل

د پتنګ ســـــوزښت وفا ده
نه چـــــــــــغاري د بلبل

وجود کاندي په ازغو کې
ګلابــــــــــونه او سُنبُل

راشد هسې بل ته ګـوري
په خپل دل کـوي ټونبل

۱۴۲۷ هـ ق ۱۳۸۵ هـ ش

---

سـ‌ـــــــحر د نصرتونـــــــو را ووړ زېرى د سبا
سالار د وحشتونو تنبتي ، ورک به شي بېګا

سپېدو د نوي ورځې انځور د ښکلا راوړو
ګلبڼ د خپلـــــواکۍ کې د توتیانو وه خندا

په خاورو خړ بیرغ بیا شاهین پنجه کې جګ کړو
نعرې د الجهــــاد ته هر خوا جوړه شوه غوغا

په ځمکه ډلې ډلې هر لور ته د غازیانـــــــــو
په چیغو د تکبیر مو خوړ بخونده شوه فضا

اوس لوړې د ازل ته فِعلي جـــــامه په کار ده
د ورونو په ګـــډون راشــــده ! ماته کـړه بلا

سَحَر: د ورځې اولې شیبې ، فجر . سبا : سهار . انځور : عکس ، تصویر . ګلبڼ :
د ګلو باغ . خوړ بخونده : خوږه . لوړه : عهد .

د ازل لوړه : هغه عهد چې په ازل کې د الله تعالی او مؤمنانو ترمنځه شوی ، چې دوی
به خپل ځانونه او مالونه د خدای په لاره کې په جګړو کې مصرفوي ، او الله جل جلاله
به ورته جنت ورکوي . ( التوبة : ۱۱۱ آیت )

---

**بیا ګرځــو په ګلبڼ پسې له ګل سره مو کار دی**
**چې تللي تر جـــــــــنته ، همغه زمونږه لار دی**

**ژوندون کې تل بېزار د زېړو ګلو له خــــــــزانه**
**د زړونو تلوسه مو یو د ســـرو ګلو بهار دی**

**د شپې تیارې خورې شوې څو آرام کړي لالهانده**
**مشال چې وي بنده ته د هـــر کار هغه سهار دی**

**دوه مخي نه ځان ساته په خندا یې خـــطا نشې**
**غریب ته به ټک ورکړي د وربښمیني چېن مار دی**

**ستاینه نه ، ښکنځل ده ، چـــــاته مخامخ صفت**
**د سرو زرو په نوم د حـقارت د میسو هــار دی**

لامل د ابادۍ یې شو ورتګ د یو انســـــــان
حجاز نومي بېدیا کې، د پتمنې مکې ښـــار دی

د زړه په ځمکـــــــه ښــه چې کړي اثر لکه باران
عمل سره تړلی د واعــــــــــظ سړي ګفتار دی

ژوګان چې ترېنه کــــــــډه شول په امر د مؤمن
مشهــور په قیروان د افـــریقا یو لوی بازار دی

اعــــــلان د بغــاوت وکړئ، د غرب له بندګۍ نه
په زوره زوره وایئ : یو الله زمونږ بادار دی

راځئ چې بې پروا شو ، بُتان مـــــات کړو د آزر
په مینه به یې ګالو دا محبس دی او که دار دی

انسان ته چې لاربـــــود شو ، له تیارو د جهالته
همدغه مُحَمّــــد(ص) راشده زمونږه خوږ سالار دی

چپن : چوپانه ، چوغه . میس : د وسپنې په څېر یوه سره ماده . لامل : سبب .
پت : عزت ، پتمن : عزتمن . واعظ : وینا کوونکی . ژوګان : ځناور .
قیروان : د تونس یو ښار دی ، حضرت عقبه بن نافع رضي الله عنه په ۵۰ هـ ق ۶۷۰ م کې اباد کړی . د ابادولو کیسه یې ابن کثیر داسې نقل کړې چې :کله حضرت عُقْبه بن نافع رضي الله عنه د حضرت معاوية رضي الله عنه په خلافت کې د افریقا سیمې فتحه کړې ، د قیروان نقشه یې په یوه شاړه او ځنګل کې وکاږله ، پدې

ځنګل کې لوی لوی ماران او ځناور او سېدل ، عقبه دعا وکړه چې الله تعالی دې دا ځای له دوی نه خالي کړي ، دعا یې قبوله شوه ، تردې چې د خلکو په مخکې هغه ټول ځناور له بچیانو سره لدې ځای نه بل ځنګل ته ولاړل ، د دې په لیدو سره ډېرو بربریانو اسلام راوړلو . البدایة و النهایة : ۸ ټوک . ۴۳۴ مخ .

---

**دې ناورین کې زه حیران شـــم کله کله**
**دا د وینـــــــو رود روان به وي تر کله ؟**

**مسلمان به وو غالب اوس مغلوب ښکاري**
**دغه تلـــــــــــه به وي داسې که پر بله**

**بیا معمـــار شي ســـتا تکل کنډر زړکي ته**
**ای یرمـــــــــــوک کې مؤمنانو سره مله**

**له وړیو نه جوړ دام به درنه یوســـــــــي**
**د زمرو منځ کې به تــش ګیر شي پاګلــه**

**یرغلګرو ته خـــــــــواخوږي د قوم وایې**
**شاشجاع هــــــــم وو بد نام له دې کبله**

**بیا به ښکته د حسرت کنده کې ناست یې**
**چې بادار دې شي په تېښته د قـــام غله**

**د نصرت مالیار به ټوک کړي ستا انګړ کې**
**ګل د فتحې پاس په غـــــرو د غازي پله**

**لوی فاتح به د قوم هــر کس ته دوا شي**
**یو بلال به اذان وکړي لــــــــه کابله**

**مونږه لاړو ته رازه د ننګ ډګـــــــر ته**
**ای زلمیه ! زمونږه هیلې او اتله !**

۱۴۲۷ هــ ق ۱۳۸۴ هــ ش۲۰۰٦ م

ناورین : سخت حالات ، مصیبت ، غم خفګان . یرموک : یوه مشهوره غزا . وړی : د ګډو مېږو او پسونو وېښته . تله : ترازو . تکل : توکل ، اراده . کنډر: زخمي ، کنډواله . مل : ناصر ، مرستندوی .

## ټرون

**ونښتل مخونه سره خپلو کې**
**و نغښتلو زړونه سره خپلو کې**

**وې کړل چې دفاع به د وطن کوي**
**ټولو قسمونه سره خپلو کې**

**یو دبل ښېګڼې ته قربان به کړو**
**مال ، لاس او سرونه سره خپلو کې**

د هجر شپه خومره اوږده شوه ! تیارې ونښتې
ستوري په پړو تړل شوي ، سپوږمۍ ودرېدې

زمونږ کاروان ته ،شپې او لارې کړلو یو لاسونه
پاس په اُفق کې ،څو مخفي اشارې وزرېدې

ابلیس په لـویو ګامو خوښ په محفلو وګرځېد
په محرابونو د ِلحــاد ترانې وزنګېدې

پټې خبرې د کلونو ، کـړې ،ښکاره منافق
ږګـړې بدلې،د رِیا ږیرکۍ و تراشېدې

سخته جګړه او ګونګی حال شو د وجود لمن کې
ډېر کم بختان د تیارو مل، تتې یې و ښویېدې

زمونږ مینار ، زمونږ بیرغ ،لا دی هماسې ولاړ
له شازلمیانو شه قربان،وینې یې وتوېېدې

**هاغه ده! اوس راسرېٍ مل شولې د رب لښکرې**
**په روڼ ډګر کې يې د وار انګازې و څرګېدې**

۲۷ جمادی اول ۱۴۳۳ هـ ق
الحاد : له دین نه کرېدل ، په دین کې له ځانه مخالفې خبرې زیاتول .

---

**الله الله نارې او څېـره ورکــــــــه د بېلـتون**
**لـــــه تانه غواړو ربه ! آ ، بې پایه سـباوون**

**کنډو ، کنډو کاروان مو په غولې د منزل کــړه**
**هېواد کې مــــــــــو تل پاتې کړه اثر د اَوَښتُون**

**پوهـــان مو رهبران کړه په لاره د جهـــــاد کې**
**غازیان مو کړه ور سم په سپین درشـــل د کتابتون**

**په هیله د تفریق بیا یو شمېر غمــازان راغلل**
**رسۍ د زړونو کلکې غـــــــواړو ستا په لاره یون**

**درمل شــــــــــــه د تپونو دُعا ده د راشد دا**
**شهید مو کړه ویده د حــــــورو منځ کې په مېشتون**

۱۴۲۹ هـ ق ۱۳۸۶ هـ ش

بيلتون : فراق . سباوون : سبا ، خپلواکي . کندېو: زخمي . غولی : فرش . هېواد : وطن . اوښتون : انقلاب . درشل : د دروازې چوکاټ ، درشائي ، دروازه . کتابتون : کتابخانه . تفريق : بې اتفاقه کول ، يو قوم په څو ډلو وېشل ، څو رهبران پيدا کول . يون : مزل . مېشتون : د اوسېدو ځای .

ځان بيدار کړه د غـازي د تورې شرنګ شه
يا د غـــرونو خواته درومه او مــــلنګ شه

د نفــــــــاق او در باريانو لمـن پرېږده
که خدای غواړې د حقپال عالم تر څنګ شه

ګوره اوس د غـفلت ژوند لويه ګناه ده
رب فرض کړې چې کافر سـره په جنګ شه

تود ګوزار شه له شپېلۍ د مــاشينداري
ګام په ګام غليم ته جوړ د خـطر زنګ شه

د خوښيو سباوون زهــــــير ولـس ته
دې ناورين کې د رباب او منګي ترنـګ شه

که د حورو نکاح غـــواړې ، سرلوړي هم
د جهـاد لار کې په خپلو وينو رنګ شه

دا يو څو ورځې ژوند وکـــړه د زمــريانو
بيا ويده د حــورو منځ کې په پالنګ شه

۱۴۲۷ھ ۲۰۰۶م

زهير : کړېدلی.غليم :دښمن .ناورين : مصيبت .

داسې رازونه لــــــــه تاريخ د زمانې ښکاري
ټــول ترې روان يو خير کــه کډې مو پرتې ښکاري

د بلاګانو د وجـــــــــود او د فــنا له درسه
هــر شی فاني ښتن يې مړ داســې نقشې ښکاري

د غـــــلامـانو د جــوســـــو په هکله دومره وايم
بې وخـــته مړي خير که سترګې يې رڼې ښـکاري

دا غـــــــــرور ندی زمونږ د قام د آزادۍ نښه ده
ببرې ږيرې زلفې ول ، لــــونګۍ کږې ښکاري

پدې پړاو کې د تاريخ زمـــــــونږ د نوې فتحې
وخت نږدې شوی ،پر افق سپينې سپېدې ښکاري

۱۴۲۹ هـ ق۱۳۸۶ هـ ش

ای د عذاب مَلَکُو ! مه ږدئ قهــرجن وزرونه
پدې دروکې فســــق شته، خو ایمانونه هم شته

سـره روانــو د منزل په لوري ګــونګ پلـونه
پام ! دا هېواد د مېړنو خو غدار زړونه هم شته

خپلواکۍ ګوره چې خفه نشي زمونږ له کلي
سر ټيټي شته دي له غيرت نه ډک سرونه هم شته

دروازې خلاصې ســاته تل ای د اسلام حاکمه !
خانان به درشـي د غـريب سړي کارونه هم شته

مانبام چې کښېني درچاپېره شي واړه او لويان
درنه هېر نشي د شهــيد خالي کورونه هم شته

په تدبير يون کوه ، غـافل نشې د وخت

زلميه! شينبلي ډېر دي څو سر پټې ګرنګونه هم شته

هر يو مجلس کې دې د راز کځورې مه را سپړه

دوستان به وي د دښمنانو پټ غوږونه هم شته

راشده ! لږ نور همت وکړه شاته پاتې نشې

ځلي يې ښکاري تر انګړ يې نور مزلونه هم شته

۱۴۳۲ق ۱۳۸۹ ش ۲۰۱۱ ـ ۷ ـ ۲۱

شينبلي : شنه ځايونه ، چمنونه . ګړنګ : لويه کنده ، د درياب په غاړه لوی کمر .
کځوړه : تيلی . ځلی ، ځلي : منارونه . انګړ : صحن ، غولی . ملکه : ملائکه .

زمونږ مزاج

دسترګو خلی په خنجر نه ، په اوبو غورځوو

ډېر مرضونه له بدن نه په دانو غورځوو

بدې خبرې ته ځواب کې بيره نه کوو مونږ

داسې سړي اول له زړه بيا له بڼو غورځوو

"د ایمان زور مو هر زنځیر او هر ټرون ماتوي
دا ستا غرور به درته زمونږ د چم پاڅون ماتوي

پدې درو کې خـــوَرې شوي د غازیانو ډلې
افغان ولس به بیا انګریز او هم یې شتون ماتوي"

د هـــــر ظالـم د ناروا وو او تېریو بُـــتان
د مظلومانــو د کلـک عـــزم اوښتون ماتوي

لــه شیـطاني لښکــرو جوړې د بېګا تروږمې
خدای د باعزمه شـــازلمو په سباوون ماتوي

د کمیونېزم په څېر غربه ! ستانظام هم مات شو
دا نظامـــونه به د خدای د دین بدلون ماتوي

۱۴۳۰ هـ ق ۱۳۸۸ هـ ش ۲۰۰۹ م کال پسرلی

زمونږ د عزم مخ ته ټول کافران مات دي
دې خورجينو کې کَـــودِي د سومنات دي

زمونږ حريم ته چې چا بد دي را کتلي
خوراک شوي د جيحون او لوی فُرات دي

دا غــزا ، فدايي توب ستړي مزلــــــــونه
د دښمن په ســـــــر وارونه د کسات دي

د ميړانې په اسمان ډېر ځـلاند ستوري
لدې چم نه پورته شــوي ځومره زيات دي

د نړۍ د پوهې کلی يې ډک کړی
بلـخ روزلي ، د بُست ښـار يا د هرات دي

**اي راشـــــده ! پاڼه پاڼه د تاريخ مــــــو**
**دښمنانو ته ازغي مونږ ته ســــــوغات دي**

خورجين : اس پنډوکی . کودی ، کودي : د ختې د لوښو ماتې توکړې . جيحون : د آمو سيند . فُرات : د عراق مشهوره سيند . کسات : انتقام . مېړانه : غيرت . چم : کلی . بُست : د لشکرګاه پخوانی نوم .

---

**تنها پاتې شــــــوم غمونو او هجران ته**
**پورته سترګې ستا رحمت شينکي اسمان ته**

**مونږ چې خپل ګټل هغه رانه پردي شول**
**سپارل شوي ، د ايمان سخت امتحان ته**

**ورور او پلار ، داسې خواږه لفظونه**
**ترخه شوي زمونږ د ژوند زهير داستان ته**

**رسیګانې سره پرې ، مونږ خليلان شو**
**نږدې شــــوي ، هغه اُور هغه سندان ته**

**ښه پوهېږو چې ضرور به غږ پرې وکړې**
**اوره ! ګل شه ، د ايمان پاتې کاروان ته**

خو لږ ژر، ژر،را ناري کړه لويه خدايه !
مونږ ته لاس زړه ته تسل شه او وجدان ته

چې انګرېز شي بيا رُسوا له کلي لاړ شي
په همغې ورځ به ځـــــو افغانستان ته

۱۴۳۳هـ ق ۱۳۹۰هـ ش

---

وساته ايمان ، د خورکۍ شال او د اسلام تصوير
خير که د غازي لاس دې له سيمې نه را لنډ شولو

پورته شو مؤمن ، مؤمن هېواد مې د تکبير غږ ته
وينو د انګرېز نه د کسات سيندونه ډنډ شولو

هر ځوی مور ته ووېل : جنت کې به ديدن کوو
لاړلو روان شول د دښمن مخې ته خنډ شولو

ټوله دنيا ونيسي خو زمونږ غرونه يې سر مات کړي
دې راز ته وطن کې هر فلان د کافر شنډ شولو

ولې مونږه وژني، کلی کور مو په بمونو خوري؟
دا ، او نور سوالونه هر افغان سره را پنډ شولو

مخکې یوه پرښه وه ، سهار وخته به راغلله
اوس یو لوی سېلاب زمونږه مینه او لوی ډنډ شولو

۱۴۳۳هـ ق ۱۳۹۰ ش

---

نیمه شپه کې نورانیت له تاریکیو نه را اخلو
انتظار د رنګینیو د مغرورې ډلې نکړو

خپل کارونه به را جوړ کړو پدې یخ او خړ خزان کې
د ماښیو شوم هوس ته به مو شارې شلې نکړو

هر تور رنګی او غریب به هم د خپل لښکر عسکر کړو
د حسینو ، بډایانو اشارې به بلې نکړو

دا ساده کلیوال ځوان به خپلو هیلو ته سالار کړو له
مغرب راتلونکي خان ته به ولاړې هلې نکړو

دا غدار، انګریز به پرېږدو ایوب خان ته به ور واوړو
د ملي اردو ټولۍ به د پردیو مَلې نکړو

بیا ورځو زاړه جومات ته ترې را اخلو درملونه
د "داروين"، "لیلین" خبرې به مو رنځ ته خپلې نکړو

د پښتو یو ، یو کندو به د اسلام له ښکلا ډک کړو
ها ، دښمنې عقیدې به ګران هېواد کې پلې نکړو

دا مو هوډ او عقیده ده مشالونه له اسمان دي
دا هدف او دغه نښې به هېڅ وخت بدلې نکړو

دا پتلون او نیکتایي مو د زاړه دښمن جامه ده
د ځنګله د زوی تقلید ته به مو خوارې شملې نکړو

دا کیږدۍ د هندوکوش، او دا حجره د هلمند ځنګ ته
خپل شپونکی خپلې شپېلۍ به په سرود بدلې نکړو

۱۴۳۴ هـ ذي الحجه ۳۰

---

دا موسکا چې مې په شونډو درته ښکاري
د غماز او درد تر منځ زما پردې دي

که مې زړه درته را وسپړلو ګرانه !
له ويالو د وينو ډکې يې درې دي

هره څانګه هره پاڼه خزان شوې
موده وشوه د سپرلي د نشتون شپې دي

پاتې شوي يو ، تنها ، غم او بېلتون ته
تللي بيا د وفا ټولې قافلې دي

نوی ګل نوی ماليار مو شهيد شوی
بيا په غم او تبغ پرهر ډېرې سينې دي

۱۴۳۳هـ ق ۱۳۹۰ هـ ش

لار وکړي د غشي غونډې ونښلي په زړونو کې
وار د شیطانانو اثر وکړي په فکرونو کې

ورشي دېره جوړه کړي ابلیس چې غافل ومومي
جوړ یو لوی سنګر کړي شاړ ضمیر خالي سرونو کې

ښه شول ، ډېر زلمي بیا پرهېز ګار مُلا ته ورغلل
کېنیناستل محراب کې ، په سنګر او مسجدونو کې

بیا د لا إِلٰهَ إِلَّا اللّٰهُ په انګازو خُمار
ټول بې پروا شوي ، صحرا ګانو او ښارونو کې

پام چې کتابتون ته بې له لاس د عالم ورنشې
شته کاږه فکرونه په واعظ او کتابونو کې

بیا به یو ترون وکړو انګرېز به حیران پاتې کړو
ګډ به کړو درسونه مدرسو او مکتبونو کې

دین مو واکمني او واکمني د اسلام برخه ده
دا فرق پیدا کړی ، دښمنانو په ذهنونو کې

زمونږ رسول ستایلی هغه مال چې په حلاله وي
پروت د پرهېزګار انسان په لاس او درمندونو کې

وروره که دا غواړې چې شمله دې هسکه پاتې شي
مه ږدئ د فساد هره آله خپلو کورونو کې

دین به کړو را خپل ، په تقوا لاړ به شو تر عرش پورې
روغ به اقتصاد کړو ، لوی لښکر په سرحدونو کې

هر کمال جمال دی،خو چې ځای د دین و نه نیسي
مات نکړي غیرت ، په وقار تېر شي په ذهنونو کې

۱۴۳۳هـ ق ۱۳۹۱ هـ ش

---

دا، ستا، ګلابي اننګـــــو پړک وکړو
حُورې! که د لمــر ځلاندو څرک وکړو

ستا د حســــن څو وړانګې ور پرېوتې
ځکه خو سيناء کې غرونــو ترک وکړو

نيت چې تر اسمـــانه پاک رسول وکړ
مينې يې په اس د کمچين شړک وکړو

پرېئېږده چې ګرځي مېلمنه هوسۍ
اى ظالمه! تا غم د تلک وکړو

زده يې له عالم کړې د شيطان لارې
بيا يې ورته غم د هر يو شک وکړو

پښې اېبله خالي لاس يې غيرت وښود
خدای يې شو ناصر کار يې ملک وکړو

۱۴۲۸ ق ۱۳۸۵ ش ۲۰۰۷ ـ ۳ ـ ۱۱

---

د زړه غم د سترګو نم به درد دوا کړي
دغه ساندې اســـويلي به ټول تبا کړي

د ســـــــهار مانېام ښېرې او پټې څړيکې
آ غريبې سلګکۍ به دوی رُسوا کړي

د شهيد د وچې شونډې مور ځواب ته
به لوی خدای دا ظالمان ټول په ژړا کړي

يـوه ورځ خو به الله رحمت را تـوی کړي
وور يتيم زړه ابۍ به په کـــــــرا کړي

یو نظام به جوړوو که خدای مو مل شو
چې ظالم راته په دار ، مظلـوم خندا کړي

---

چې بیا د مینې او تکلیف ببل ببل اجرونه راکړې
ځکه روان په سختو لارو ستا تر کلي پورې

په تدبیرونو ، دعاګانانو او کړاو به رسې
تر کمالونو ، د عزت تر هر یو ځلي پورې

د خزانې پر سر همېش لوی ښاماران پراته وي
اوږده مزلونه وي هر باز او هر ښاغلي پورې

د لږ آرام لپاره بند قصر کې مه اوسېږه
لکه بازان په همت ځه په پورته تللي پورې

د ژوندو خلکو په مجلس کې به ته هم ژوندی شې
د تیتو خلکو لار به تاوکړي تا کوم مړي پورې

له تکبر نه ځان ساته ، نور کړه اوچت مزلونه
لویه فضا ده ځان کړه سم د شاهین کلي پورې

دا هم انسان وو خو ستر عزم یې تاریخ بدل کړو
عمل په لوړ خیال کړ پیوست پورته ختلي پورې

۱۴۳۴ هـ ق ۱۳۹۱هـ ش

---

زما زړه د هر مؤمن د خـــــوښې کور دی
پکښې پروت د اجــمـالي مینې انځور دی

چا غوښتل چې له یوه مطلب نه ځار شي
رب مو مل شو اوس د ټول امت غمخور دی

د دیدن ، مینې ښکلا د تورو ځای ترې
نیول شوی ، پکې ناست د احساس شور دی

خـو وطن مـو شي آزاده واک مـو خپل شي
تر هغـه مهـاله جـــام زما نسکـــور دی

قاصـــــد بیا د سباوون د راتلـــــو زیری
را روان کړ هاغـه پورې په اس سپور دی

۱۴۳۳هـ ق ۱۳۹۰ هـ ش

---

چې وطن وی ، خپل ټبر او خپله خاوره !
خیر که دشت کې کیږدکۍ مو وی ولاړه

ها ! چنار چنار زلمي ، باحیا پېغلې
هر هلک مو ایوب خان ، نجلۍ ملاله

هغه پاک پاک ګودرونه د سیند غاړې
د غیرت او سپېڅلتیا لوړه مناره

لوړ برجونه ، ستر درانده سنګین سرې مو
خادرونه ، لوی پټکي ، شمله ولاړه

هر سړی درته معلوم ، قام يې روښانه
ډمان پرېږده ، عزتمن سره وړه لاره

پردي کلي کې به چاته هرکلی کړې
او د چا مخ به ونيسې هينداره

دلته نه ښکاري ، کم اصل ، له اصيلو
هره ډله ده مشکوکه هره باره

د مخ ځرک د ږيرې ول به دې دوکه کړي
بيا به پرېږدې درته جوړه مينه شاړه

رب دې مل شه ، د راشد پردېس زړګيه
پاک الله دې شه ناصر هماغه غواړه

۱ ربيع الثاني ۱۴۳۳ هـ ق ۱۳۹۲ هـ ش

---

پته مینه زما او ســـــــــتا خبرې شوې
راغله د شـــاعر زړه نه ســـندرې شوې

هاغه د صحرا او تورو شـــــپو جرګې
شور شولو کیسې، لویې لښکرې شوې

غـــــېږ وکړ یو چا : هلئ میدان ته شئ !
پورته ورته سمې شوې ډبرې شوې

هک شو له غوسې نه د معشوق دښمن
مخ ته یې چې سپر زمونږ ککرې شوې

يو کړلو رب ، پورته شـــــــو غزا شوله
ډلې ځکه تلـــــــو ته برابرې شوې

د انګرېزانو په مقابل کې د روان جهاد پړاوونه . سپَږ : ډال .

تيارو ته ســـــــباوون شه د وحشت د دې
بهير بيا وړاندې کړه دنياته د اســـــــلام عادل تصوير

را پورته شـــه ممبر ته ، عمري توره په لاس
جهـــــان کړه را بيداره بيا په چېغو د تکبير

ستا ځـــاله سنګرونه او پالنګ دې د اس شا
عمل مـــــــو شبخونونه ، نه شيطان سره شوګير

که ځـوان يې حنظله شه او که پېغله يې خَنساء
لـــــه نوي سره پيل کړه غورځنګونه جهانګير

که ځان درنه ورک شوی وي تاريخ ګوره مؤمنه!
نيکونه دې شاهان وو ، پلانـونه يې عالمګير

۱۴۳۲ هـ ق ۱۳۸۹ هـ ش

بهير : سلسله . اس : اسپ . شا : ملا . شبخون : د شپې حمله . شوکير : شپه په ويښه تېرول .

---

اورونو د فتنو د شيخ وجدان وسوځاوو
توبې شوې ورته ماتې ، مال ايمان وسوځاوو

اول راغلل تر غاړې د تنور صرف تماشې ته
په ورو ، ورو يې هډونه او ټول ځان وسوځاوو

پدې فکر چې لرې دی، ويده شو د خوړ منځ کې
ناڅاپه يې سېلاب کور او دالان وساځاوو

عمر رض ويلي : تقوا لكه ستا يون ازغنه لار كې
هر څوک چې لړ كوږ شوی نو شيطان وسوځاوو

قدم قدم دې ګوره چې حلال دی كه حرام
پرون تمې تر تا لوی مسلمان وسوځاوو

استاد رح مې راته ويل : د فتنې ځای كې مه تمېږه
په سرای ګډ شوي اور نوی انسان وسوځاوو

راشده سفر لوی شولو ، وېرژنې لارې راغلې
ها ، ګوره ! هغې وړانګې لوی سلطان وسوځاوو

۱۳ ذي القعده ۱۴۳۳ هـ ۱۳۹۱ هـ ش

---

يو ځوان خيال نوې جذبې مو او جهان وو
تصور ته مو ټيټ ځمـــــــــكه وو اسمان وو

ننداري ، خپلواكه فكر ، مجلســـــــــــونه
مسجدونه بازارونه او صـــوفيان وو

دوه كسان مو په تقدير ســــــــره اخته وو
يوه ملكه بل ها زوړ دښـــــمن شيطان وو

آخر مونږه شــــــــــــو په برخه د ملکو
وېشل شوي ټول په امر د رحمان وو

له دنیا نه را جـــــــــــدا ازغن مزل ته
تر جنته له راشـــــــــــــد سره روان وو

---

خـــــلک ترې تښتي زه په مینه کې نور غم لټوم
لکه مجنون خپلـــــــــــه لیلا په هر یو چم لټوم

پدې کنډروکې مې څه دي پردېسي جامه کې
رنځور زړګي ته د کـــــــــوثر د خوږ مرهم لټوم

چې ټول قومـــــونه کړي نېشه د آزادۍ په فکر
د حـــــــــــــماسو له بنګو ډک هغه چلم لټوم

که را رڼا کړي له کلونو نه تياره جـــــــــونګړه
د پيغمبر شــــــــــار کې به ګرځمه يو شم لټوم

زمونږ دښمني کوه خو پرېنږدې د عوه د اسلام
اي مروره! تاته لارې د قدم لټوم

راشد مې وليد سرګردانه ،په جواب کې يې ويل
د انګريزي کلتور چيچلي ته يو دم لټوم

۱۴۲۷ هـ ق ۱۳۸۵ هـ ش ۲۰۰۶م

حماسي : د غيرت او مېړانې خبرې . کنډرې : کنډوالې . کلتور : ثقافت .

---

ستومان کار دی ،د مؤمن ژوند کې ،هجرت
ايمان غواړي ، لوی توفيق او لوړ همت

پرېښودل د هر يو شته د دې دنيا
خپل ټبر ، محفل ، ياران او محبت

مدينه کې خو يو څو منافقين وو
اوس خو کم دي مؤمنان ، کم عزيمت

مخ په لور د یو مجهول منزل او زړونو
پردی نسـار ، پردی کلتور او عمارت

پټ اسرار ، لوی امتحان دی د لوی خدای
سخت له تللو د آدم له لوی جنت

بس دا هرڅه هر یو تریخ سات د بېلتون مو
ستا له لـوري ، ځکه یې ګالو سعادت

خو ! ای ربه! زمونږ بدن هم جوړ له غوښې
ډېر سخت مه کړې ، امتحان مو د غیرت

د ملکو غوندې ښکلی توفیق راکـړه
سپېڅلتیا د انبیاوو او جـرأت

بس مونږ ستا او ته زمونږ یې لویه خدایه !
په مونږ هر وخت مهربان شه هرساعت

په آرام عفت او هر وخت را نصیب کړه
یون په لاره د اسلام ، د دین خدمت

۱۹ ربیع الثاني ۱۴۳۳هـ ق ۱۳۹۰ هـ ش

---

د دې کلي ټول کــره خـلک ويده دي
هوښياران او ټول ساده خلک ويده دي

انقلاب دی پرنګيانو سره جنګ دی
خو ځـــــوانان او نارينه خلک ويده دي

بڼ تالا کړ د بل کلي شــــــــــــغالانو
څوک يې نشته که کوربه خلک ويده دي

حــــــــــريفان يې سره ډله ډله کېږي
دوی مړه شـــوي که سکه خلک ويده دي

**د اشنا لـــــــه مرستې ټولو ځان ويده کړ**
**آوازه شوه چې ګـــډېبه خلک ويده دي**

۱۴۲۷ هــ ق ۲۰۰۶ ـ ۳ ـ ۱۹

**بيا ګيله ونکړې ، ګرانې خپلواکۍ !**
**له لېمو دې ځار شم ، ښکلې آزادۍ !**

**ستا په لاره کې مو هر ناورين ګاللی**
**زلمو پرېښې دي نازونه او بدرۍ**

**پاک الله ته ور روان شو ستا لپاره**
**رانه پاتې شو خوږ پلار خوږه ابۍ**

**په نخرو نخرو لوی شوي پتمن کور کې**
**اوس مو شپه ده په بيابان خړه دري**

زمونږه اصل زمونږ غرور خو تا لیدلو
هر یو غر وو راته مات ، هره لړی

ډېر ذلیل خلک اوس زمونږ تر مخ کیسې کا
افتخار د خپل مورک ، کبډر ، لکی

که ته راغلې ، مونږ به یو ،او یا به نه یو
چې خفه نکړې ځوانان جومات پکړی

۱۸ ربیع الثاني ۱۴۳۳ هـ ق، شپه ، دوه نیمې بجې ۱۳۹۱هـ ش

---

را وباسئ ســـــــرونه نور د وخت له هتکړو
اعـــــلان کړئ آزادي ، د مادیاتو له پنجو

ترڅو به وي ترلې د عالم ژبه ډالر ؟!
نسلونه کړل تبا ، ستاسو چوپتیا ، د دوی نعرو

خبره د نغلونو ،سپین کمیس او وینا نده
د کفر مســـئله ده ، نه ورکېږي په سجدو

که رب در څخه دا پوښتنه  وکړي چې دا ولې؟
ولاړ وې  ،  له کافر سره  ،  هغوی مؤمن ويشتو

را پاڅئ ، سهار شوی ، حمله وکړئ په دښمن
اندام اندام يې پرې ، يو ګوزار ورکړئ په مزغو

۱۴۳۳هـ ق ۱۳۹۱ هـ ش  ۲۰۱۲.۳.۱۵ م

---

دا خيال  مه کړه  چې  جنت ته به يون ژر شي
له يو  څو  بېګا نه  وروسته  به  اختر  شي

نن  به  وکرمه  بوټي  تش  ميدان  کې
له  خوارۍ  پرته  به تول  راته  ثمر  شي

مؤمنان  بايده  دا  ګــــــــــــومان  ونکړي
چې همېش دې وم خوشحال محفوظ دې سر شي

الله وايي : مخکني مـــــو ازمويلي
له کړاو وروسته بيا ستوري زمونږ د در شي

دا دنيا خو يو ميدان د ازموينو
يو څه وخت دی ، که دا هم در برابر شي

يو يو ځو ترې ، آخر ټول ترينه فنا شي
بيا نو ټول د حسابګرو هم دفتر شي

نتيجې او پايلې هلته اعــــــــــــلانيږي
چې را غونډ واړه قومونه په محشر شي

ډير کم بخت به پدې کم وخت کې ويده وي
په خوراک ، نيشو او بدو به يې سر شي

دغه ژوند د ازموينو لويه شـــــــــپه ده
د شپې شپې ارمان يې بيا سحر شي

۱۳ ذي القعده ۱۴۳۳ هـ ق ۱۳۹۲ هـ ش

## دُعا

خدايه ! نور ماته هم نصيب کړه هغه جام او شراب
پاس د عرش څوکې لاندې لار راکړه تر تل د درياب

زه وم له مخکې پوهېدلی خو يقين مې شو اوس
ټول په توفيق ستا پورته شوي او ورېږي سحاب

د عزت ژوند غواړو ،او خير دی که سترېا وي پکې
د غلامۍ د لارې نه غواړو مانۍ او کباب

د عفتونو ایمانونو ، شهادت خاتمه
ژوند دې وي اوږد لکه نښتر او یا لنډی ترکتاب

د معرفت رڼا ، رڼا لارې او آب حیات
ښکلا د دواړو ، ستا رضا او لوی جنت بې حساب

---

د خدای حدود ځاره د ورځې او د شپې لږ شو،کیر
همدغه لار ده تر الله د رسولانو او پیر

ستا دا بدن ډېر قیمتي ده له سروزرو ښخه په
لږ همت او عمل شه د ملایکې تصویر

دروازې خلاصې دي تر عرشه هرکلی هم کیږي
د رب له لوري بې توپیره د هر خان او فقیر

هر څوک په خپله جوړولی شي لوړ بام د ژوندون
بېشک بدلېږي په کتاب کې په دُعاوو تقدير

پام د کارغي ، جاهل ، غلام او غدار لار مه نيسه
ځان برابر کړه د شاهين ، عالم ، غازي پر بهير

الله ويلي : "که دې پيل کړلو تر ما وُرُو مزل
مونږ به په منډه درته سم کړو ستا د ژوند هر مسير

په نوافلو او سجدو به را نږدې شې دومره
زه به دې لاس شم مرستندويه، بيا به نه يې زهير"

---

وايه راته : غرونو کې زر څه معنا ؟
مينه کې د حسن سحر څه معنا؟

چاته واکمن تار شي بيا يې وتړي

شرنګ د بنګړو زلفې په سر څه معنا؟

ټوله دنيا ستا، هر يو مزل لنډ شي
ياد د نوم د خداى او اثر څه معنا ؟

سپينه خو سپوږمۍ ده نو داستوري يې
چار چاپېر او شپول د قمر څه معنا ؟

دواړو کې په دوه سترګو کتل کوو
سم او ناروا د نظر څه معنا ؟

کله وي تيارې کله رڼا راشي
ورځ کې ډوبېدنه د لمر څه معنا ؟

خدای خو يې يو دم هم را کولای شي
پس له لوی کړاو نه ثمر څه معنا ؟

هسې خو به هم جنت ته تللی وو
بيا د حسين مخ ته شمر څه معنا ؟

هر چاته به مخامخ کېدلی شو
لاره چپول له عُمر څه معنا ؟

ګورو به جنت کې د الله مخ ته
مصر کې ټوټه ټوټه غر څه معنا ؟

ټول په يو شان غاړو کې نښتي دي
بيا نو قيمتي او تش سر څه معنا ؟

قمر: سپوږمۍ . شپول : له سپوږمۍ نه چاپېره تیاره . شمر: د حضرت حسین رضي الله عنه قاتل .

# خپلواکې قافیې

# یو نازک ارمان

ته خو خبر یې زمونږ له زړونو ربه !
له ځو کلو وروسته یو ځای شو
سره له لوی بېلتون او کړاوونو
وروسته اوس مېلمانه د یوه سرای
شو سره ته د غریب له اسویلو
خبر یې د غمجنانو له کیسو خبر
یې

لړه شپېه مو په سر لاس ونیسه
د بېلتون ووړ او زاړه مه را
پرېړده
تر مابنامګیه د ژوندون
زمونږه
تربور ، غماز او ساړه مه را
پرېړده

بس دا یوه هیله لرمه له
تا
راته پوره یې کړه تولواکه
خدایه

د انقلاب بېلتون وهلي پرېړده
چې په لیدلو نېه ماړه شي سره

دغه سواند زړونه او دا ترې سترګې
خړوب خوړې او تول خواږه شي سره

۱۵ ربیع الاول ۱۴۳۴ هـ

# هیله

زه به مې زړه ته دا تســــــــــــــــل ورکوم
چې یوه ورځ به مې اشــــــــــــــنا راشي

بېلتون به تور تور اړولی د وصــــــــال لښکرو
رویبار به شین وي له خـــندا کور ته به زما راشي

هېواد به واغوندي شنې رنګه او خوړلنې جامې
هئ هئ به کاندې د کوربه په خېر به لارې خاري

ژبې خــــوږه شه له الهامه ښايسته توري جوړ کړه
مخ ته يې کېږده لـــــه هنره ډک د تورو لاړي

تاسو هم ځانګـو سره وپېچېږئ سورى وکړئ
ژړګو را وباسئ ګلونه مو خواږه کړئ لـــوري

ښايسته بادونو په خواږه رباب مو تاو را تاو کړئ
په ټولو ځانګو اتڼ وکړئ چې تر ډېرو ښوري

ځـــوانانو پورته شئ سرو ته د چاپېره غرونو
وسلې په لاس ،لارې ساتئ د کلا مخ او غولي

مشرانو بند کړئ په وحــدت سره د زړه درزونه
بيا تور غماز پکې ونه نيسي کوم سراى د اوړي

نور په ورو ورو قدم راځه، د خپلواکۍ ناوکۍ
ګلان شينده په شرنګا ځه چې غمازان درګوري

په لوى تدبير يو نظام جوړ کړئ د ولس مشرانو !
چې رحمتونه يې په هــر قام د هېواد را اوري

۲۵ شوال ۱۴۲۹ هـــ ق ۱۳۸۵ هـــ ش

خوړلن . خوړ . توري : الفاظ . لاړي : لوی لرګي ، دستک . ژرګه ، ژرګې : د ګلاب او نورو ګلانو ونه . لوري : اطراف ، خواګانې . غماز : صليبي انګرېزان و د هغوی هر مزدور چې زمونږ د ملت او اسلامي نړۍ ګډوډي غواړي .

## دا خلک زمونږ په خبر نه پوهيږي !

( ۱ )

څوک به خبر وو چې نفاق به دومره وده کوي !
لدې ملکونو به ايمان او سړي کډه کوي

لکه د ورکو په څېر کم به شي د حق لارويان
په عام مجلس کې به هر څوک له اسلام ډډه کوي

دلته به راشي د روميانو او كسرا لښكرې
مانۍ به جوړې كړي په هر ښار او په ډېرو زړونو

دلته به اوسي آخر جوړ به كړي د خپل لاس سړي
قبضه به وكړي په لاسونو او ډېرى سرونو

په تېرېدلو به د ورځو او د مياشت
كلونو خلک عادي شي له رومي سره او را به
نيسي

ټول سوغاتونه د روميانو، او ډېر ژر به هېر
كړي د بابا خوى ، او كه ور ياد دې كړو نو تا به نيسي

( ٢ )

چې پېرى تېرې شي رڼا ته د څراغ د انګرېز
د غلامۍ په تار ترلې غاړې لرې نكړي

بلكه له پلاره شي ورپاتې هريو ځوى ته دا
تار زامن هم خرڅ شي د بادار دا كيسې هېرې نكړي

زامن به فکر کړي چې دا لکه فطرت زمونږه
د بدلېدلو ، اوړېدلو ، زوال لار نه لري

ځکه چې مونږ ته په میراث کې دی له پلاره
پاتې دا نور نسلونه بې له غربه بل یو پلار نه لري

( ۳ )

چې شه خبره د بدلون او اوښتون ونکړې
دلته جهاد یاد نکړې شور چې د پاڅون ونکړې

چاته کیسه د دې تارونو د پرېکون ونکړې
عزم بیان ورته د دې حال د بدلون ونکړې

زمونږ روحانیانو ته اوس رسي مقدس
رزقونه نوم یې اسلام ته شو منسوب ، شولو روا کارونه

دلته بدل شو جمهوري په اسلامي جمهوري
هلته بدل شو ، جمهوریت په جمهوریت اسلامي

ملا ته دومره وو پکار چې یو اذان وکړي
د کفر منځ کې بس دی غږ د مسلمان وکړي

انګریز دا حق ورته منلی دی په څو چندونو
هم یې ورکړي دي لښکرې په سلو زرګونو

صوفي ته دومره وو پکار چې پکې ذکر وکړي
یوه کوټه چې بس مدام دی پکې فکر وکړي

انګریز منلي دي دا ټول اولدې لوی کورونه
دا په ژوندیني د ملت د ازادۍ ګورونه

تجار ته لاره د کاروان او د پلورلو دُکان
د ځان لپاره په ارامه ښه مانۍ په امان

دوی ورته خلاصې کړلې لارې تر مغربه پورې
این تر جنوبه تر شماله او مشرقه پورې

دې روشن فکره مغرب فکره ته وه دومره پکار
چې ازادي دې د نعرو وي او د حق د چغار

یو ښه بیان د خلافت دې په کاغذ کې
وکړي زمونږ د اسلافو تور غیبت دې په کاغذ کې وکړي

په کاغذونو ، دیوالونو دې اسلام را ولي
په سیمینار او مجلسونو دې اسلام راولي

( ٤ )

ټوله دنيا ده اوس ځای شوې او لګيا دي په کار
ملا ، تاجر ، سياسي ، صوفي ، واړه لګيا په روزګار

صرف فيصلي دوی په قاضي نه ، په جَجانو کوي
د واک په ځای کې يو سلام د انګريزانو کوي

د اسلامي قانون ، قاضي په ځای به جج ته ورځي
د بيت الله په ځای د سپينې ماڼۍ حج ته ورځي

پدې خوږو کې دا لږ تريخ دومره خبره نده !
حال، او ژوند جوړ خراب تاريخ لويه خبره نده !

( ٥ )

خو دلته شته ځولېوني او مستانه خُماريان
اوري په زړه کې يو الهام بس ورپسې دي روان

د ګيدړتوب په ځای يې درس د زمريتوب ويلي
د غلامۍ په ځای يې درس د سرېتوب ويلي

را پورته شوي چې له سيمې نه انګريز وشړي
په يو ګلک عزم پرنګيان زوی د چنګيز وشړي

خرابوي ارامه ژوند د ټول جهان د خلکو
د ملايانو ، تجارانو درست جهان د خلکو

خو په خبره او منطق يې خلک نه پوهيږي
دا غلامږي يې په ضد دي هره خوا بوږنيږي

ملايان وايي زمونږه ژوند او مدرسې ورانوي
صوفيان بيا وايي زمونږه فکر او تسپې ورانوي

تاجران ټول سره په يو غږ دا نارې کړي پورته
کار را خراب دوی زمونږ جوړې کتابچې ورانوي

سياسي ملا چې جمهوري يې اسلامي کړو ورته له
قاره ډک له ممبرونو د انګريز دا وايي :

دا ليونيان دلته فساد کوي سرونه وژني
زمونږ له فتوا بغير دوی ولې عالمونه وژني

( ٦ )

ای زما زړه ای زما ځانه ای د وخت زلميه !
لکه چې بولي دې هر څوک د خپلواکۍ مجنونه!

زمونږ په خبره د دې سيمې خلک نه پوهيږي
لاړ شه خبرې دې اوبو ته او چنار ته وکړه

په توره شپه کې يې د ستورو رڼ کتار ته وکړه
د کعبې خواته يې پاک رب ته زمونږ بادار ته وکړه

په مدينه کې محمد ته زمونږ سالار ته وکړه
يا يې محشر کې ستر ټولواک ته او قهار ته وکړه

( ۷ )

دلته څوک غم د اسلامي نظام لپاره نکړي
اوس عادت شوي ، ناروا د غلامۍ په ژوندون

ور څخه هېر دی خلافت او جهاد
د دوی ايمان دی په قانون د مغرب

ورته محال ښکاري زوال د انګرېز
يوځل بيا ماته ستا په لاس د انګرېز

خو ته خبر او لاروی د يو پوره ايمان يې
ته موسی پېژنې په لار د ابراهيم روان يې

خدای درته حکم د ویشتو د هر فساد درکړی
هم یې پامیر ،مست هندوکوش او لوړشمشاد درکړی

ځه ! په تکل د یوه خدای ټولې تیارې ورانوه
په تُوره ، تبر ، او خالي لاس بتخانې ورانوه

یو ورځ به راشي زمونږ د هیلو امیدونو سهار
د اسلامي نظام د ورځې او کلونو سهار

دا دنیاګۍ ده ، پکې ډېر به ما بنامونه راځي
بیا به سپېدې خوږ مازدیګر او سهارونه راځي

دلته سپرلی او خزان دواړه پوره برخه لري
امین ، غدار ، دې هدیروکې بېله شناخته لري

۱۵ جمادی اولی ۱۴۳۴هـ ق

# لمر او وریځې

( ۱ )

يو ځلې بيا د پرنګيانو يوه ډله دلته
زمونږه عزم ، د مټ زور او حوصلې ازمي

لکه د وريځو کتارونه چې د لمر مخې ته
سهار سهار را وړاندې کېږي په همدې تکل چې

دا له ذراتو جوړ لاسونه به مو تم کړي دلته
د وړانګو دا سپينې لښکرې به په وړاندې نه ځي

نور به نړۍ کې تور تمونه او تيارې خورې شي
اذان به ورک شي، په هر لور به بتخانې خورې شي

خلک به لار نه ويني هر خوا به ګامونه اخلي
د خوښۍ ښار کې به نور هر څوک ماتمونه اخلي

مونږ به د دروغو څراغونه او ډيوې جوړې کړو
واکې به زمونږ سره وي وړو به انسانان لور په لور

چې پلوشې نه وي هر لور ته به تيارې خورې شي
بس واکمني به مو شي پيله په وطن کور په کور

( ۲ )

د لمر خوزښت سره بل خواته د بادونو زور شي
ترغې ترغې شي د ماښام اربکیان ، د تورو شپو مُریدان

سرې سترګې لمر فاتح فضا ته په یو ټوپ را ووځي
خو بیا ظلمونه او مېلې نه کوي ، عدل کوي

ظالم ته عفوه د مظلوم او غریب مرسته کوي
د خدای حکمونه ثاري پرې غلی غلی ګرځي

خپل او پردي ته له یوه دره رڼا ور کوي
هر تور او سپین ته له یوه کوره سودا ورکوي

کنه کولی شي راکوز شي ټول عالم وسوزي
یا لږ په بره خوا روان ، ساړه هر چم وسوزي
خو ظلم نه کوي لستوڼو کې اورونه پالي
نه تکبر ، لاس کې د ټول تخلیق را زونه پالي

۱۴۳۰ هـ ق ۱۳۸۷ هـ ش ۲۰۰۹.۱۲.۲۲ د لمر سترګې را ختلو وخت په یوه دښته کې د سفر پر مهال .

# نصیحت

( ۱ )

که دا غواړې چې عزت دې   په امان وي
له ضرر نه لرې پروت محفوظ دې ځان وي

نو په ژبه دې د بل بد بیان نکړې
تور اخلاق یې د چا مخ ته عیان نکړې
ځکه ته لرې عیبونه ډېر بې شمېره
هم له هر چا سره شته پر تا سر بېره
ګڼې ژبې لرې خلک ستا یوه ده
ستا بدیو ته تېره هره یوه ده

که دې سترګو د چا عیب درته ښکاره کړل
پټ رازونه یې د ستا په ننداره کړل
ورته وایه زما سترګې ! پټ وساته
دا عیبونه که ته خیر غواړې و ماته
هر سړی لرې دوه سترګې زور ورې
زما عیبونه به ترې پټ نه شي تر لرې

( ۲ )

په اخلاقو ژوند کوه ظلمونه معاف کړه
هر مؤمن ته دې زړه لوی له کوه قاف کړه
او که پوه شولې چې وخت دې نه تېرېږي
لدې کس سره دوستي دې نه اوږدېږي
نو په ښه طريقه غوتې ترې جدا کړه
په دوکان کې ورسره ښېله سودا کړه
لويه ځمکه د الله ده لوی اسمان دی
ځه! په هيله د هغه چې لوی يې شان دی
رب به درکړي نوی ځای نوي ملګري
په څو څنده به وي ټول له دوی ښاغلي

( ۳ )

سپک سړي سره که مخ شوې خطا نشې
له هغه سره په بدو ، رُسوا نشې
هوښياران خلک به تا ملامت بولي
هغه سپک خو به خپل ځان سلامت بولي
بس په پټه خوله ترې اوځه مجلس پرېږده
د عزت لپاره دغه هوس پرېږده

( ۴ )

له جاهل سره په شخړو اخته نشې
په بحثونو او جګړو اخته نشې
پدې کار به خلک سپک ګوري بیا تاته
هوښیاري به دې ګڼډوه شي هر چا ته

( ۵ )

له دښمن نه بې پروا نشې هېڅکله
هر مهال ورته تیار اوسه په خپله
دا غفلت به دې نابوده له جهان کړي
هم تبا به دې وطن او هم ایمان کړي

( ۶ )

حسد ګر سړی د لارې سالار نکړئ
هېڅ ساعت یې د کاروانو سردار نکړئ
په نازک وخت کې به وار در باندې وکړي
له لستوڼي به ګوزار در باندې وکړي

( ۷ )

لکه ګرځي چې مچۍ د شاتو سترې
له هر ځای نه يې خوږه پرښه راوړې
ته هم ګرځه تل پر څنګ د هغو خلکو
چې را خېژي ترې بويونه د لَوَنګو
د حکمت ، علم او پند کوي خبرې
در کوي تاته په لاس کې ملغلرې

لرې اوسه ! له شغال او له بلبله
له زمريانو او بازانو سره ځغله!
هر سهار ته چيغې مه وهه ، سهار شه
خپل مشکل ته دې په خپله را بيدار شه

که دې ټولې کړې په وخت دغه خبرې
په لوی زيار دې بيا کړې ثبت دغه خبرې
بيا به تاپسې هم واړه خلک ګرځي
سختو لارو کې به ستا لپاره غورځي
ستا شاتونه او شکرې به را نيسي
ستا سندرې ستا خبرې به را نيسي

( ۸ )

که دا غواړې لوی کارونه په سر واخلې
د سخي نوم او تاجونه په سر واخلې
بیا نو غواړه له الله نه ډېر مالونه
هم ترې غواړه کارنامې او ستر کارونه
ځکه نه کیږي کارونه بې له ماله
صحابي قیس کړې دا خبر هر چا له

که بچیان الله درکړي وي ځوانان ټول
هوښیاران او با غیرته مؤمنان ټول
چې ترې تللې دا خبره ورته وکړه
هر یوه ته یې په سر کې ښه پخه کړه

ای بچیانو! مشر ورور مو خپل ملک کړئ
د کورونو او د ځمکو یې مالک کړئ
په مشرۍ د مشر ورور به هر څه یوسئ
زما په لار به را روان شئ تاج به یوسئ
د خپل مال قدر کوئ او ښه یې ساتئ

له اسراف او له تبذير[1] ځني يې ساتئ
ځکه مال د ښه سړي ښکلې توښه ده
له بد زړي په امان يې دروازه ده
سوال، غوښتنه له بل چا نه چې ونکړئ
زرين مخ مو د بل مخ ته رُسوا نکړئ

( ۹ )

که له خلکو سره شول دې ډېر کارونه
قومندان، عالم ، تُجار کړل دې امرونه
بيا خيانت له هېڅ سړي سره ونکړې
بند ورونه خلاص د چا د عِفَت نکړې
هر سړی ګڼه هوښيار له خپله ځانه
پدې کار به يې له شر نه په امانه

( ۱۰ )

که را ګير شوې له ظالم سره څه کار کې
ورسره شوې په لانجه پدې روزګار کې

[1] اسراف : بې ځايه مصرف . تبذير: له ضرورت نه زيات مصرف .

که دې زور ورسره سم نه وو نو ځه ترې
په تکل د انتقام کړه مخه ښه ترې

او که پوه وې چې دې زور ورسره سم دی
په يو لاس کې دې توپک او بل کې بم دی
کوښښ بيا هم کړه چې داسې ګوزار ورکړې
په خپل کور کې يې په شخړو او غم سر کړې
د توپک په ځای که عقل استعمال کړې
کار د زهرو به په ګوړه او په مال کړې

هوښياران ځانونه ساتي له جګړو
له بې ځايه بنديدنې لويو شخړو
لوی لښکر له ولس تاو کړي په خبرو
خلک اخلي په اخلاقو ملغلرو
جنګ تاوان دی د بادشا او ملتونو
ځان هوښيار کړه ای سالار د ولسونو
خپل هېواد ، ملت، بچيان له شخړو ساته
له بديو دښمنيو نه يې ساته

خو که پای د ښو خبرو دې سم نشو
کوم عمل د جرګه ګرو دې سم نشو

یا ور پورې وو ستا حق ستا د نېکونو
یا اشغال ته وو راغلی د قومونو

بیا ظالم سره ونه کړې په کراره
هېڅ خبره ، ورته توند اوسه هوښیاره
په ظالم که ظلم ونکړې نو بیابه
خامخا په تا ظلمونه کړي او تابه
دې ته اړ کړي چې ملکونه ورته پرېږدې
د نیکه پلار جایدادونه ورته پرېږدې
بس ترخه خبر ظالم ته ښه دوا ده
تېره توره هم قاضي ده هم ملا ده

( ۱۱ )

که عالم وې له مسجد سره دې کار وو
طالبان ،پاک دې ممبر او لوړ مینار وو
له دنیا نه بې پروا شه ، يو خدای غواړه
له انسان نه هېڅ حاجت د ژوند مه غواړه

د چارواکو مخ ته تل د حق خبره
په هر حال کې ته کوه د حق خبره

لکه فرض په ځان تهجد کړه او نفلونه
پدې لار کې د بري دي دا رازونه

ستا د ژبې هر يو لفظ په خدای ګران دی
بې له تانه ورته ټول جهان ارزان دی
په بدل کې لوی جنت درکوي تاله
سپينې حورې په قيامت درکوي تاله

په دنيا کې به هم درکړي عزتونه
خو يو څه وخت به ګالې لږ تکليفونه
بيا به ګوتې درته نيسي خلک واړه
د دنيا د عزت هار هم ستا پر غاړه

او که خدای مه کړه دا ژبه دې شيطان ته
يا د وخت کوم فرعوني غوندې انسان ته
په بدل د څو روپيو کې سودا کړه
په خپل لاس دې د ايمان باغچه تالا کړه

بیا نو لاړې د بلعام په لار روان شوې
چې پرې اورې تل لعنت هغه انسان شوې

خدای دې نکړي چې ته دغسې انسان شې
د بلعام په لار روان او لوی شیطان شې
ځکه ته هم د آدم ځوی مسلمان یې
لدې ختې نه جوړ شوی یې افغان یې

(۱۲)

که په لاس دې ځوک را لوی یا تربیه کړو
په نخرو دې بیا ولاړ پر مناره کړو
چې منار ته شولو پورته نوګویان شو
ستا په سپکو او بدیو را عیان شو
یا دې جوړې ورته زین کړلې لښکرې
یا غریب ته دې لمن کې ملغلرې
چې لړ لرې شو له تانه ته یې هېر شوې
ستا دښمن سره دوستې ته ځنې هېرشوې

بې صبري مه کړه، خپل لاس ژبه مات نکړې
د مکتب صنفونه ړنګ، چپه شات نکړې

دا سې وخت کې صبر زده کړه له لوی خدایه
چې ښکنځل زغمي د خپل بنده له ورایه

چې پیدا یې په خپل لاس او جوړ له خاورو
همغه انسان په څومره خواوو لاړو

له خدای لرې، د ښمنۍ ته یې تیار شو
چې اسمان څېروي ځای د دې ګفتار شو

۱۴۳۳ هق د شعبان نهمه شپه، یوه بجه .

## دا په کومه خوا روان یاست؟!

دا په کومه خوا روان یاست؟ ای زمونږ د چم مشرانو
امیرانو، بادشاهانو، عالمانو، او پیرانو
دا په کومه خوا روان یاست؟ ها جهاد او تکبیر څه شو
هر مجلس په کباب ګرم، ها توپک او زنځیر څه شو
ها خبرې ستا واعظه! ها فتوا د مولویانو
ها پنجکې د پیرانو، ها نقشې د انجنرانو
ها جهاد، جهاد نارې مو، ها پښې ایبله بهیر څه شو

---

نه دی کفر بدل شوی، نه ترې تللې امریکا ده
هماغه زړه دوستي ده، هماغه زړه بلا ده
هماغه د ارګ کونجونه، تول ډک ښکاري له روسانو
له خلقیانو پرچمیانو، پرې برسېره انګرېزانو

کومه نوې وحیه راغله، که ابلیس د مَلَک رازکې
هاغه زوړ قرآن بدل شو، که کارغه جامه د بازکې
هدیرې هدیرې ډکې، له هغوچې تا وژلې
صرف پدې تور دې نیولې، چې کابل ته ولې تللې

---

زما مرئ ده خپه شوې، سا مې بنده بنده کېږې
لاس مې رېږدې له غوسې نه، د شپېلۍ غاړه وچېږې
که دا لړ غږ مې درتېر سو، له دې بندو دربڅو نه
له دې لرې، لرې زړونو، د دې وخت له پنجرو نه
راځه بېرته زما خوا ته ، د زاړه هجرت تم ځای ته
که دا نکېږي، نو پورته، شه سنګر ته زاړه سرای ته
څوک له لوړې نه مړه کېږي، له زمرو سره یو ځای شه
د شپانه رمه ترې واخله، خیر! شپونکی په لار د خدای شه
تول تاریخ به په امان وي، هم راضي به پاک سبحان وي

چې     د تا     په لاره لاړ شي   ، د هغو به کور ودان وي

که را دُرُومې نه، ور درومې، بیا لېږ تم شه زما وېش راکړه

صرف په خپل نامه کافر شه، زما تحریک تنظیم ته شا کړه

دې تنظیم کې شهیدان شته، دې تحریک کې فدایان شته

دا نومونه شاته پرېږده، د دې کارساتندویان شته

خدای دې بیا هم لارکې پوه کړه چې را تاو شې له دې عاره

مجاهد شه مسلمان شه، خدای دې مه باسه له ښاره

راشد

۲۱ ذی الحجة ۱۴۳۷هـ ۱۲ نیمې

انګرېزانو ته د حکمت یار د تسلیمېدو غمجنه شپه

أَعاذَنا اللهُ مِنَ الكفرِ والطُّغيان

# ترانې

مونږ په مينه ، الله نه ، د ستا د وصال
سوغات غواړو بېلتون کې مو سوی ده حال

ته یو کل لـــــــوړ بَها ، زه بورا تل بیمار
د تقدیر په زنځـــــــــــیر مې تړلې ده لار
د هسک بام ستر څښتن ته کـــوم دا اقرار
چې بدن مې مېلمه کـــړي د بڼ د جمال

که ښکلا وه خو ستاوه جهـــــان کې نبي
نېک عــادات دي بیان په قرآن کې نبي
ستا د روڼ ژوند انځـور شو بې مثله درمل
ورکــــــــــوي انسانانو ته راز د کمال

زلزلــــــــــو د وحشت او څپو د غفلت
رنګه کـــړې نړۍ کې مانۍ د رحمت
ستا منشور عدالت او بیدار حکــومت
بیا رڼا کړه خوره په جَنــوب او شمال

**هر کمال د موسى خوږ کلام د عيسى**

**بادشاهي د داود د يوسف تيت ښـکلا**

**بلکه هر يو ګـــــرځند او څېره د عالم**

**راشــد وايي پيدا شو خادم ستا دقال**

هسک : اسمان . رونې : روښانه . درمل : دوا . انځور : تصوير . مانۍ : قصر . ګرځند : متحرک ، حيوان . قال : د رسول الله صلى الله عليه وسلم پيغام خبرې او دين .

وجود مې سباوون دی راز خـزان کې د سپرلي يم
په زړه کې لــــږ ځای غواړمه پيغام د يو غازي يم

ځو وارې زه پوکی شوم ، شپېلۍ د اســــرافيل کې
باطل ځواک مې تالا کړو فرعون په رود نيل کې
په لاره ځوک تم نشول ، تلم روم ته يو بهير کې
فاتح د پاني پت شومه لښکر د ابدالي يم
فاتح د سومنات شومه لښکر د غزنوي يم

ماليار شـوم کنډر باغ ته ، په وينو مې سمســـور کړو
زاغـــانو تور تم راوړو وحشت يې هر خوا خپور کړو
له هــر چا نه بېزاره سنګر مې د وخت کـــــور کړو بيا
نوو ولولـــــــــــو سره ملګرې د مهدي يم

د همس په جامه پټه را تاو شوم په ډېرو کې
ورين لمر شـــمه ځلېږم دښمن ته سنګرو کې
بيا اور شمه برېښنا شـم دجنګ په کتارو کې
نعرې د الجهــــــاد کوم وينا د شا زلمي يم

**منم چې زما خواته په يون کې ډېر کړاو دی**
**په اوښکو او زګېروو مې رنګين هر يو پړاو دی**
**خـو سـاتم عزتونه پتمـــــــن مې هر تړاو دی**
**راشـده ځان سره مې کړه جـــوهر يم قيمتي يم**

جهيل : د غرونو په منځ کې غونډې شوې او به ، مراد ترېنه سمندر. ماليار : مالي، د باغ خادم . همس : ورو ورو غږ بدل ، عربي . ورين : روښانه . کړاو : تکليف. پړاو : مرحله . تړاو : تړون . پتمن : عزتمن .

**د تکي بڼ ماليار خفـــــــــــه د تسل جام لټوي**
**زما تصور تل ګــران شهيد محمداسلام(رح) لټوي**

**لکه خفه چې وي نسيم نکړي الـوت خوږمن بيا**
**د سبا سترګه په ژړا ښـــــکاري سنګر درد من بيا**
**د ستا بيرغ سره مرغــــان کوي سلام غمجن بيا**
**د تسل روح ګرځي ستومان ستا خـوږ کلام لټوي**

**شهيده ستا پلان ټوټه ټوټه کړل ټول کافران**
**د وېرې خيال مات شو هر لور ته شو بيدار مؤمنان**
**د وينو خــال دې سېلاب جوړ کړلو څپانده روان**
**اغيار شــــــــو تېښتې ته چمتو لار د سلام لټوي**

**سپېڅليه ستا بيرغ ته ورشـــــــــم پرې ژړا وکړمه که**
**د يتيم ژوندون ته شـــــــــمه شم رڼا وکړمه پدې**
**تکل چې به ديدن وکړي ستا ګران ثاقبه ! د**
**راشـــــد زړه مخ په کابل د محبس بام لټوي**

ملا محمد اسلام رحمة الله عليه : د ميدان ښار د بادام د کلي اوسېدونکی ، په ۲۰۰۴ کال د خپل کلي په لمن کې انګرېزانو ته په کمين کې شهيد شو.. ثاقب: مولوي قدرت الله ثاقب رحمة الله عليه ، د کابل د موسهي اوسېدونکی ، په پل چرخي کې څو کاله بندي وو ، له خلاصون لږ وروسته په بمبارکې په شهادت ورسېد.

غبار دې نور هم زيات شي د ډار سودا مو نشته
ربـه ! ناهيلي نه يـــــــو د مرګ پروا مو نشته

کـه لار ازغي ازغي شي ، غرونه نېزې ټوکوي
سيندونه جوړ کړي سېلاب اسمان لوګي ورروي
دا مو عـادت وي همېش تلل د ازغو په څوکو
د سمســور بڼ په تکل يــون کې ژړا مو نشته

واکداره ! ستا يو کاروان بيابان کې تګی پروت دی
هرخوا نه جوړ پرې تورتم بيدار او غلی پروت دی
کـــــــوچوان تسل ورکوي ، د سـربښندۍ او هيلو
د نصرت بېره يې وکړه ، بلـــــــــه اسرا مو نشته

د وينو څاڅکي شنه کړه ، د حريت بڼ ترې جوړ کړه
له وړانګو ډکه ډيوه ، راکړه ، وطن پرې جوړ کړه
ملګرو ســـــم کړئ اعمال ، څو شي د بدر انځـور
راشـــــــــده دا لاره ده ، بل ځاي دعا مو نشته

ناهيلي : نا امېده . يون : مزل . واکدار : مالک . کوچوان : د قافلې مشر.
سربښندنه : قرباني . انځور : تصوير.

**بیا د ســنان د تورې ول دی د تاروس درو کې**
**ګرانه غازي که د ستا پل دی د باسوس سرو کې**

**د وخت ریمونډ دی بیا راغلي د تسخیر په تمـــه**
**غواړي اســـــــیا باندې خوره کا د تحمیر لمنه**
**د ایوبي او د زنکیانو کار کوه مسلمه !**
**بیا ایماني وار ته کوکارې کړي منحوس پنجو کې**

**د حطین لوی ډګره ! ستا نقشه مو پلې کــــړه بیا**
**سا د دښمن مو د هېواد هر چم کې غلې کړه بیا**
**کنډر خیره به دې اباده کړو د حلب ســـــنګره!**
**د وحدت خلي بیا خرخیږي د محبوس میرو کې**

**ځــــــــــوانانو واړوئ په مینه مینه تېرې پاڼې**
**لومړي يې زده او بیا شروع کړئ د اسلافو کانې**
**د ســـــــــرښندنې او بري په تکل واخلئ قدم**
**دلته راشـــد نیولی فتحې ته فانوس لاسو کې**

سنان : د صلیبي جګړو یو مسلمان قومندان . طاروس : د مخکنیو صلیبي جګړو یو اسلامي سنګر . بابوس : په لوګر کې یو غر ، له روسانو سره د جهاد په وخت کې د مجاهدینو عمومي لاره وه . ریمونډ : په صلیبي جګړو کې د کافرانو یو مشر. تسخیر: تابع کول . تحمیر: له چا نه غلام جوړول . زنکي : د عماد الدین شهید او د ده د ځوی

نور الدين زنکي قومي لقب .

حطين : هغه لوی ډګر چې صلاح الدين ايوبي پکې صليبيانو انګرېزانو ته عبرتناکه ماته ورکړې وه او دېرش زره يې او وژل . حلب : په د مشق سوريه کې يو مشهور ښار .

فانوس ، پانوس : ډېوه ، څراغ .

د ګلونو مــــــــازديګر د سنګرونو مازديګر
د غازيانو له کاروان سره د غرونو ما زديګر

شرنګــــها د سپينو تورو او شنهارى د اســــونو
پاس بازان تاو کړي په بَرَهْ او فضا وي د ګلونو
شړهار د شنو اوبو وي هره خوا او زېږى لمر
لکه وي چې څوک له عمره په هجران کې د دلبر

هر زلمى پدې تکل څو واخلي پور د فاطمې يا
ور کېږدي خال د وينو په تندي د ملالۍ
اسيا فتحه به شي ژر له ځناورو د صليب
عمري پوځيان را جمه شول هر خوا لښکر لښکر

لوى پاڅون مو بريالى شو را ځلاند د فتحې لمر
د زمري په څېر و لاړ دى ګران غازي په هر ډګر
اى راشده ايماني کاروان به ژر تر منزل رسي
يا د شپې يا ماسپښين يا په سپېدو کې د سحر

فـاطـمـه : هغه مسلمانه چې د عراق لـه ابـوغرېب زنـدان نـه يې د مسلمانـانـو پـه نـوم دردونـکى لـيک را استـولـى وو .. ټـيـکرى : پړونـى . **پـاڅون : قـيـام** .